Berghof Foundation

# سوله بريا ده: د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې او پخلاينې بهير ارزونه

مشتاق محمد رحيم

13

**معلومات مختصر در مورد نویسنده**

آقای مشتاق محمد رحیم کارشناس افغان صلح و امنیت بوده که طی شانزده سال گذشته در بخش اصلاحات سکتور امنیتی، مدیریت منازعه و اعمار صلح کار کرده است. آقای رحیم برای چهار سال در مؤسسه بین المللی پاملرنه و بعدتر در اداره انکشافی ملل متحد ایفای وظیفه نموده که مسؤلیت رهبری و تطبیق انکشاف برنامه های جلوگیری بحران و بازسازی را بعهده داشته است. در این اواخر، منحیث معاون ارشد دارالانشای پروسه صلح و مصالحه ملی در شورای عالی صلح کار کرده و عضویت هیئت اجرائیه این شورا را نیز داشته است. آقای رحیم ماستری خویش را در اداره تجارت از پوهنتون پریستون در پاکستان و ماستری دیگر خویش را در منازعه، صلح و امنیت از مرکز بین المللی آموزشی کوفی عنان در گانا بدست آورده است. نامبرده در برنامه های آموزشی و ورکشاپهای متعدد مجمع های متخصصین بین المللی در خصوص بازسازی پسامنازعه، برنامه های انکشافی و تحول منازعه اشتراک نموده است. آقای رحیم منحیث استاد دیپارتمنت روابط بین المللی در پوهنتون کاردان مصروف تدریس میباشد. وی همچنان دو مقاله علمی را در مورد اصلاحات پولیس در رابطه به پولیس مردمی (Community Policing) در افغانستان مشترکاً با نویسنده دیگر به رشته تحریر در آورده است. همچنان وی مقالات متعددی را در مورد منازعه افغانستان در مجلات و روزنامه های ملی و بین المللی به نشر رسانیده است. آقای رحیم  به صورت منظم در رسانه های ملی و بین المللی در مورد سیاست و امنیت منطقه و جهان نظریات کارشناسانه خویش را ابراز مینماید.

**در مورد این سلسله**

این گزارش در قالب چارچوب سلسله انتقالی برگوف به نشر میرسد. این سلسله در سال ۲۰۰۸ آغاز گردیده و شامل گزارشات تحقیقی در چارچوب پروژه مطالعاتی " انتقال به سیاست از تحریک ها مقاومت/آزادی: ایجاد شبکه تجارب" میباشد. این سلسله ای از انتشارات برای کارشناسان محلی که در سابق و یا در حال حاضر در تمام جهان در پروسه های تحول منازعه دخیل بوده اند، زمینه لازم را فراهم مینماید تا تجارب خویش را از طریق تحریر گزارشات منعکس سازند. باوجود اینکه تمام نظریات ارائه شده به خود نویسندگان و سهمگیرنده گان ارتباط دارد و منعکس کننده نظریات بنیاد برگوف نمیباشد، اما بنیاد برگوف خواسته است تا از این طریق برای آنعده از فعالینی که در تحول منازعه نقش پیشتازی داشته اند زمینه انعکاس نظریات خویش را فراهم نماید. باوجود اینکه نوعیت منازعه در هر چارچوب منحصر به فرد میباشد، اما قویاً به این باور هستیم که چنین دانش مبتنی بر تجربه میتواند برای کسانی که درتمام جهان در اعمار صلح دخیل هستند زمینه آموزش را فراهم نموده تا از شکست ها و مؤفقیت های هم مسلکان خویش در قالب های مختلفه که در این سلسله به نشر میرسند، تجربه آموخته و درس گیرند.

**Mushtaq Muhammad Rahim:** Peace Prevails: A Review of the Process to Peace and Reconciliation between the Afghan Government and Hizb-e Islami. Berghof Transitions Series No. 13.

© Berghof Foundation 2018. All rights reserved.

**Acknowledgements**

The project and this report were made possible by funding from the German Federal Foreign Office.

Auswärtiges Amt

د آلمان همکاری
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

Copies can be ordered from:
Berghof Foundation
Corrensstr. 12
D–72076 Tübingen, Germany
Tel. +49 (7071) 920510
Fax +49 (7071) 9205111
http://www.berghof-foundation.org/
order@berghof-foundation.org

# سرلیکونه


د راپور لنډیز ........................................................................................ 1

۱. سریزه ........................................................................................ 2

۲.پر افغان شخړې یوه ځغلنده کتنه ........................................................................................ 3

۲,۱ د افغان شخړې ماهیت ........................................................................................ 3

۲,۲ د حزب اسلامي رول ........................................................................................ 4

۳. د سولې شالید او له مذاکراتو مخکې مذاکراتي پړاو ........................................................................................ 6

۳,۱ د سولې د اجنډا رامنځته کول ........................................................................................ 6

۲.۳ مساعدوونکي لاملونه ........................................................................................ 8

۳,۳ هیلې (توقعات) ........................................................................................ 9

۴. د سولې مذاکرات او پایلې ........................................................................................ 11

۱.۴ د مذاکراتي ټیمونو جوړښت او وړتیا ........................................................................................ 11

۲.۴. د سولې مذاکرات او د هوکړه لیک د مسودې لیکنه ........................................................................................ 13

۳.۴ د مدني ټولنو او نویو سیاسي ګوندونو سره سلا مشورې ........................................................................................ 14

۴.۴ د سولې د هوکړه لیک منځپانګه ........................................................................................ 15

۵. د سولې د هوکړه لیک تطبیق ........................................................................................ 17

۱.۵ تشکیلاتي جوړښت ........................................................................................ 17

۲.۵ د هوکړه لیک پلي کیدنه ........................................................................................ 18

۶. پایله ........................................................................................ 20

مأخذونه او سرچینې ........................................................................................ 23

ضمیمه I: هغوی سره چې مرکې شوي ........................................................................................ 24

ضمیمه II: د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې د هوکړه لیک بشپړ متن ........................................................................................ 25

# د راپور لنډیز

په دې راپور کې د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې او پخلاینې د هڅو شننه او څېړنه ترسره شوې ده. د سولې هوکړې ته د رسیدو لپاره یې اغیزمن لاملونه او محدودیتونه مشخص کړي، هوکړې، د هوکړو پلي کول او لاسته راغلې تجربې یې چې په راتلونکې کې ورځخه د سولې د مذاکراتو په برخه کې ګټه اخیستل کیدای شي، ارزولې او څېړلې دي. حزب اسلامي د یو ګوند په توګه په ۱۹۷۰ کال کې د اسلامي حکومت د رامنځته کولو په موخه جوړ شو. حزب اسلامي د یوې مهمې جهادي ډلې په توګه د افغانستان د شخړې په ټولو پړاوونو-لکه په ۱۹۸۰ کلونو کې د شوروي اتحاد د تیري کوونکو پوځونو او د هغوی له ملاتړ څخه برخمن رژیم په وړاندې مبارزه، په ۱۹۹۰ کلونو کې د کورنیو جګړو، د طالبانو سره د سیمو د کنټرول په برخه کې مستقیمه جګړه او په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم له راپرځیدو وروسته د افغان حکومت او نړیوالو پوځونو ملاتړیو په وړاندې جګړه کې-ونډه درلودلې ده.

په ۲۰۰۹ کال کې افغان حکومت وسله والو مخالفو ډلو سره د سولې د مذاکراتو له لارې سولې ته د چمتووالي ژمنه اعلان کړه. د دې ژمنې پر بنسټ افغان حکومت وسله والو مخالفینو سره د مذاکراتي بهیر لومړي پړاو یعنې له مذاکراتو-مخکې-مذاکراتي څو کلن پړاو پیل کړ چې بیا وروسته دغه بهیر د رسمي مذاکراتو پړاو ته ورداخل شو. بالاخره، د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر په میاشت کې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ، چې استازولي یې د سولې عالي شورا کوله، د سولې هوکړه لیک لاسلیک شو. له دغه هوکړه لیک څخه ملي سیاسي مشرتابه او نړیوالو همکارانو بشپړ ملاتړ څرګند کړ. په دې څېړنیز راپور کې پر ټولو هغو لاملونو چې د حزب اسلامي سره یې د سولې هوکړه لیک ته لاره هواره کړه بحث کیږي چې د کابل میشتو حزب اسلامي مشرانو ونډه او د بهرنیو ځواکونو د وتلو اعلان چې پر بنسټ یې حزب اسلامي سولې ته پر جګړې لومړیتوب ورکړهم پکې شامل دي. دغه راز په دې راپور کې پر دې هم بحث کیږي چې څنګه د طالبانو زیاتیدونکي قدرت د حزب اسلامي رهبري اړ کړه چې له موقع ګټه واخلي او مخکې له دې چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې بهیر د دوی اهمیت راکم کړي، د افغان حکومت سره د سولې هوکړه لاسلیک کړي.

له بده مرغه، د پراخو سلا مشورو او د مذاکراتو د څرنګوالي او اړوندو ځانګړونو په اړه د تخنیکي مهارتونو نه شتون د سولې دغه هوکړه لیک پر وړاندې په ځانګړې توګه د تخنیکي او سیاسي تطبیق په پړاو کې جدي ستونزې رامنځته کړې. د طالبانو په څیر د لویې او پیچلې ډلې سره سوله مسلکي او حرفوی مذاکراتو ته اړتیا لري چې د منظمې پالیسی او ستراتیژی جوړول، د تخنیکي سلاکارانو درلودل او د هوکړه لیک د تطبیق د څارنې لپاره خپلواکو بنسټونو شتون او د عامه او ستراتیژیکو اړیکو د پروګرامونو په لاره اچول پکې اړین توکي دي.

# ۱. سریزه

د ۲۰۱٦ کال د سپتمبر په میاشت کې افغانان د څلویښت کلنې ځورونکې جګړې په اوږدو کې په لومړي ځل د سولې د هوکړه لیک د لاسلیک شاهدان وو. افغان حکومت او حزب اسلامي، یو له هغو اصلي ډلو څخه چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې یې نړیوالو ځواکونو سره وسله وال مخالفت کاوه د ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کال په دوران کې د سولې مذاکرات ترسره کړل. مخکې له دې چې حزب اسلامي د افغان دولت سره د سولې هوکړه وکړي، وسله واله جګړه پای ته ورسوي او افغان دولت دوی ته په سیاسي بهیر کې د ګډون لاره هواره کړي، دواړو خوواو یو ډېر جدي مذاکراتي بهیر ترسره کړ.

دې ته په پام سره چې د سولې دا بهیر او د پلي کولو پړاو یې په افغانستان کې یوه بې سارې بیلګه ده، د دې بهیر مستند کول، د پیاوړتیاو او کمزورتیاو په نښه کول او د بهیر په دوران کې د نوښتونو منعکس کول ډېر اهمیت لري او کولای شي په راتلونکې کې د ورته بهیرونو لپاره ورڅخه ګټه واخیستل شي. دا راپور پر مهمو پېښو، اړوندو کړنو، نوښتونو او مهمو اقداماتو تمرکز کوي. څرنګه چې افغان حکومت غواړي د نورو وسله والو ډلو په ځانګړې توګه طالبانو سره هم سوله وکړي، باید پوه شو چې د حزب اسلامي سره د سولې له مذاکراتو څخه کومې لاسته راغلې تجربې د سولې او پخلاینې په راتلونکو بهیرونو کې د ګټې اخیستنې وړ دي.

دا راپور د سولې په بهیر کې د ښکیلو مهمو ۱۷ کسانو سره د مرکو پر بنسټ لیکل شوی دی. په دې موخه د مذاکره کوونکو پلاویو له غړو، د دولت لوړ پوړو او د منځني پوړ هغو چارواکو سره چې د سولې په بېلابېلو پړاوونو کې یې ګډون درلود، د حزب اسلامي استازو او د سولې عالی شورا غړو سره تفصیلي مرکې ترسره شوي دي. دغه راز د دولت د مهمو چارواکو سره چې د حزب اسلامي سره د سولې له هڅو څخه یې ملاتړ کاوه او همدا راز د حزب اسلامي له مشرتابه سره چې د سولې د بهیر بریالیتوب ته یې لاره برابره کړې وه هم مرکې ترسره شوې دي. د نړیوالې ټولنې استازو سره چې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه یې په دې بهیر کې ونډه درلودله او دا راز د مدني ټولنو له استازو څخه هم اړوند مالومات راټول شوي دي. د نیمه-جوړښتي مرکو سربیره چې لارښودونکې پوښتنې پکې ځای پرځای شوې وې، د دې راپور د جوړولو لپاره له ثانوي مالوماتي سرچینو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده. بېلابیل راپورونه او مقالې هم ترنظر تیرې شوي دي ترڅو ټول هغه موضوعات چې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ یې د سولې هوکړې ته لاره برابره کړې ده، تر شننې او ژورې څېړنې لاندې راشي.

دا راپور د منځپانګې له پلوه پرته له سریزې په څلورو مهم برخو ویشل شوی دی. په لومړۍ برخه کې سریزه، په دویمه برخه کې د افغانستان د شخړې اوښتونونه او بدلونونه، د حزب اسلامي رامنځته کیدنه او تکامل، په دریمه برخه کې د حزب اسلامي سره د سولې د مستقیمو مذاکراتو د مخه سوله بیزې هڅې، د حزب اسلامي سره د افغان دولت د اړیکو ټینګښت، هغه لاملونه او توقعات چې دواړه خواوې یې سوله بیز حل ته اړ کړې، څلورمه برخه کې د مذاکراتي ټیمونو وړتیاوې، د بهیر پیچلتیاوې او محدودیتونه او دغه راز د مذاکراتو د بریالیتوب لاملونه، په پنځمه برخه کې د افغان حکومت او حزب اسلامي د سولې هوکړه لیک پر تطبیق او هغو برخو چې نه دي پلي شوي هر اړخیز بحثونه ترسره شوي دي. په پای کې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د سولې له بهیر څخه د لاسته راغلو تجربو په لست کولو سره دا څېړنیز راپور پای ته رسیږي.

# ۲. پر افغان شخړې یوه ځغلنده کتنه

په دې برخه کې د افغانستان د شخړې پر مختلفو پړاوونو او بیلابیلو اړوندو اړخونو بحث کیږي او بیا وروسته د حزب اسلامي پر رامنځته کیدو او په افغان منازعه کې د نوموړي حزب پر دریځ او موقف تمرکز کیږي.

## ۲،۱ د افغان شخړې ماهیت

په تیرو څلورو لسیزو کې افغانستان په شخړې او منازعې و چې بیلابیل پړاوونه یې درلودلي دي: په ۱۹۷۳ زیږدیز کال کې وسله واله شخړه هغه مهال پیل شوه چې محمد داود خان د وخت پاچا له قدرت څخه لیرې او جمهوري نظام یې رامنځته کړ. تر دې مخکې هم بیلابیلو ډلو هڅه وکړه ترڅو داسې یو سیاسي نظام چې د اسلام یا ماویستي/لیننستي- کمونیستي نظامونو څخه یې الهام اخیستلی وي رامنځته کړي. د داود خان نوي دموکراتیک حکومت د دغو غورځنګونو پر څېلو پیل وکړ، ګڼ شمیر مشران یې زندانونو ته ولیږدول خو ډیری مشران یې ګاونډیو هیوادونو ته ولاړل.

په ۱۹۷۸ کال کې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د داودخان پرواړندې، د یوې خونړۍ کودتاه په ترڅ کې، نوموړی او د هغه کورنۍ ووژل او د قدرت واګې یې په لاس کې واخیستې. نوي رامنځته شوي رژیم د سوسیالیستي اجنډا ګانو پر پلي کولو پیل وکړ چې له کبله یې ډیرافغانان پاکستان او ایران ته په کډه کیدو مجبور شول. کله چې د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په میاشت کې د شوروي اتحاد سرو پوځونو پر افغانستان تیری وکړ، ګاونډیو هیوادونو ته د کډه کیدونکو افغانانو په شمیر کې د پام وړ زیاتوالی راغی.

پر افغانستان د شوروي اتحاد پوځي تیري د وخت د رژیم او تیري کوونکو پر وړاندې وسله وال پاڅون لا ګړندی کړ. په ۱۹۸۰ لسیزې کې د جګړې په لیکو کې د جنګیالیو شمیر زیات شو، دیني مشرانو (علماو) او مخالفو سیاسي رهبرانو (اسلامي ګوندونو، ماویستانو او نورو) پریکړه وکړه چې په فعاله توګه د هغه رژیم پر وړاندې چې ورڅخه یې کرکه درلوده او د رژیم لخوا لومړني څېونکي ګذارونه یې د خپلو ځانونو پر وړاندې ستر ګواښ باله، په عملي توګه اقدامات پیل کړي (ګیستوزی او ابراهیمي ۲۰۱۰). پاڅون کوونکو غورځنګونو څخه په هماغه وخت کې متحده آیالاتو او عربي هیوادونو ملاتړ وکړ او پاکستاني پوځ یې لاربنوونه کوله[1]. د دې وسله وال مقاومت په پایله کې د شوروي اتحاد پوځي ځواکونه د ۱۹۸۸ کال کې د جینوا د توافقاتو پر بنسټ له افغانستان څخه وتلو ته مجبور شول او بیا په ۱۹۹۲ کال کې کمونیستي رژیم راوپرځول شو.

جهادي تنظیمونه بیا د واک د ویش پر سر پر یوې هوکړې سره سلا شول، خو ونه توانیدل چې د اوږدمهال لپاره یوځای سره کار وکړي، او په همدې ترتیب سره د مجاهدینو د بیلابیلو ډلو ترمنځ تنظیمي جګړې پیل شوې چې یوې سترې سراسري داخلي جګړې ته یې لاره هواره کړه. تر۱۹۹۴ کال پورې چې په افغانستان کې طالبان راڅرګند شول افغانستان د تفرقې له ګواښ سره مخامخ و (رشید ۲۰۱۰). د طالبانو نوی غورځنګ چې موخه یې د بې بندوباره ملیشو له منځه وړل و، تقریباً پر ټول هیواد یې ولکه ټینګه کړه او په آسانۍ سره یې د ځان پر وړاندې مقاومتونه له منځه یوړل. پر متحده آیالاتو د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې بریدونو پرمهال طالبان د هیواد په شمال کې د پاتې کوچنۍ سیمې د ولکې ترلاندې راوستلو لپاره په جګړه بوخت وو. د اکتوبر پر ۷ نیټه، د امریکې د متحده آیالاتو ولسمشر جورج بوش داسې یو پلان منظور کړ چې که طالبان نه غواړي د متحده آیالاتو غوښتنې ته چې د القاعده

---

[1]. د امریکا کانګرس د مرکزي استخباراتو د ادارې یا (سي، آي، اې) لپاره یو کلنه بودیجه ځانګړې کړه ترڅو په افغانستان کې د پوځي پروګرام څخه ملاتړ وکړي. د سعودي عربستان سلطنتي کورنۍ او ولسمشر رونالد ریګن د کمونستانو پر وړاندې یوهوکړه لاسلیک کړ. د دغه غوره هوکړې پر بنسټ چې د واشنګټن او ریاض ترمنځ ترسره شوه، سعودي لوري توافق وکړ چې د متحده آیالاتو د هر ډالر پر وړاندې ډالر ورکړي.
(ستیف کول ۲۰۰۴)

د مشر ورسپارل دي و اود نوموړي برید مسؤلیت په غاړه لري، مثبت ځواب وواییي، نو د یو جدي برید په ترڅ کې به د طالبانو ټول تأسیسات بمبارد کړل شي (بیرد او الیکس ۲۰۱۱).

وروسته له دې چې طالبان د ۲۰۰۱ کال د نومبر په میاشت کې د کابل پریښودلو ته اړ شول، د ملګرو ملتونو سازمان د آلمان په بُن ښار کې یو نړیوال کنفرانس د یو لنډمهاله حکومت د رامنځته کولو په موخه جوړ کړ- په دې کنفرانس کې طالبانو ته د ګډون اجازه ورنکړل شوه (سټیف کول ۲۰۱۸). نړیوالې ټولنې فکر کاوه چې نوموړې ډله د پوځي پلوه له منځه تللې او په سیاسي پروسه کې له دې امله چې د القاعده سره اړیکې لري د ګډون حق نلري. خو طالبانو ډیر ژر د نړیوالو ځواکونو پر وړاندې خپله وسله واله مبارزه پیل کړه او د افغانستان امنیت او ثبات یې له ننګوونو سره مخامخ کړ.

## ۲،۲ د حزب اسلامي رول

د افغانستان په شخړه کې حزب اسلامي د یوې مهمې ډلې په توګه تل رول لوبولی دی. دې ګوند خپله مفکوره، تشکیلات او جوړښت د افغانستان د مسلمانو ځوانانو له غورځنګ څخه چې د کابل پوهنتون د ښوونکو او محصلینو یوه ډله وه او په ۱۹۶۹ کال کې جوړه شوې وه، اخیستي دي. د مسلمانو ځوانانو غورځنګ د مارکسیستي او او ماویستي تحریکونو پر وړاندې چې د شاهي نظام پر ضد یې په پوهنتون او د کابل په ښار کې فعالیتونه ترسره کول، جوړ شوی و (جانسن ۲۰۱۸). د حزب اسلامي بنسټ په اصل کې د مصر د اخوان المسلین له ګوند څخه چې د اسلامي خلافت جوړول یې اساسي هدف و په الهام اخیستو ایښودل شوی و.

حزب اسلامی د ګلبدین حکمتیار لخوا تأسیس شوی چې په لومړیو مرحلو کې یې د نورو پیژندل شویو افغانانو په ګډون د حکومت پر وړاندې مخالفت او مبارزه پیل کړه او وروسته یې د نویو تشکیلاتو سره خپل جلا ګوند جوړ کړ. د شوروي اتحاد له تیري وروسته حزب اسلامي خپله وسله واله مبارزه سخته کړه او له دوه هغو مهمو تنظیمونو څخه شمیرل کیده چې د شوروي اتحاد له ملاتړه برخمن رژیم سره په جګړه بوخت و. هغه مهال ډیری خلک په دې نظر و چې حزب اسلامي تر ټولو نورو تنظیمونو او ډلو زیات د امریکې د متحده آیالاتو او د خلیج د هیوادونو سیاسي او مالي مرستې او ملاتړ ترلاسه کوي. د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته حزب اسلامي د تیر په څیر د کابل حکومت پر وړاندې چې مشري یې ډاکټر نجیب الله کوله خپلې وسله والې جګړې ته ادامه ورکړه.

یاد تنظیم د ډاکټر نجیب الله د حکومت له سقوط څخه وروسته هم په کورنۍ جګړه کې ستر لوبغاړی و. حزب اسلامي او جمیعت اسلامي د جهاد له هماغه لومړیو ورځو څخه د اصلي رقیبانو په څیر له یو بل سره په جګړو کې ښکیل وو او وروسته بیا د کابل تر ولکې لاندې راوستلو لپاره هم په جګړه بوخت شول. وروسته کله چې طالبان د افغانستان په سویل کې راځرګند شول، حزب اسلامي له طالبانو سره هم په جګړه واوښت او بیا یې له جمیعت اسلامي سره لاس یو کړ ترڅو پر ټول افغانستان د طالبانو د کنترول او غلبې مخنیوی وکړي.

د حزب اسلامي د وسله والې مبارزې او شخړې دریم پړاو د نړیوالو مرستندویه ځواکونو یا آیساف او د افغانستان مؤقت حکومت سره چې د بُن د ۲۰۰۱ کال د هوکړه لیک پر بنسټ رامنځته شوی و، جوړوي. د نړیوالو ځواکونو او د دوی متحدو افغان ځواکونو پر وړاندې د حزب اسلامي د وسله والې مبارزې موخه له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو بشپړ وتل و. سره له دې چې حزب اسلامي په ځینو سیمو لکه ختیځو سیمو، په شمال او مرکزي افغانستان کې ځینې سیمو کې پیاوړی حضور درلود، خو هیڅکله یې ونشو کړای د طالبانو په څیر په یو لوی ګواښ بدل شي. په اصل کې طالبان په هیواد کې یوه ستره وسله واله ډله ده. حزب اسلامي د افغانستان په څلوېښت کلنه جګړه کې مهم لوبغاړی پاتې شوی ځکه په دې ټوله دوره کې ترپایه دې

تنظیم وکړای شول خپل سازماني جوړښت، د مراتبو سلسله او سیاسي-نظامي اغیزمنتیا وساتي. حکمتیار یو کریزماتیک شخصیت دی او د ګوند غړي یې سره له ټولو استبدادي پریکړو چې یوه یې د ۱۵ کلنې وسله والې جګړې او مخالفت وروسته د سولې او پخلاینې له بهیر سره یوځای کیدل و، بیا هم ملاتړ کوي. سره له دې چې د وسله وال مخالفت په وروستیو کې حزب اسلامي له پوځي پلوه دومره پیاوړی نه و، خو د افغانستان حکومت سره د سولې او پخلاینې له لارې هوکړې ته رسیدل د افغانستان په تاریخ کې یوه مهمه پیښه شمیرل کیږي.

# ۳. د سولې شالید او له مذاکراتو-مخکې مذاکراتي پړاو

## ۳،۱ د سولې د اجنډا رامنځته کول

نړیوالې ټولنې فکر کاوه چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د راپرځولو او د نوي حکومت له رامنځته کولو سره دوی توانیدلي چې په افغانستان کې ټولې وسله والې مخالفې ډلې له منځه یوسي. له همدې امله کله چې هغوی د دولتي ادارو یعنې پوځي او اداري مؤسساتو د پیاوړي کولو هڅه کوله، هیڅ کومې وسله والې مخالفې ډلې سره یې نه په بُن کې او نه وروسته د افغانستان د شخړې د هوارولو لپاره کار وکړ. په ورته وخت کې وسله والو مخالفو ډلو او په ځانګړې ډول طالبانو خپلې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړ او په تدریجي توګه د هغوی پوځي ځواک په زیاتیدو شو او د چریکي جګړې له لارې یې د پام وړ اغیزمنتیا وښودله. د وسله والو مخالفینو د پوځي ځواک او خوځښتونو له زیاتیدو سره، نه پرلپسې حکومتونه (لنډمهالي او انتقالي حکومت) او نه هم نړیواله ټولنه دې حقیقت ته متوجه شوه چې وسله وال مخالفین د سیاسي جوړجاړي له لارې سیاسي بهیر ته داخل کړي.

حامد کرزی چې کله د مؤقت حکومت د بشپړیدو وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د ټاکنو له لارې ولسمشرۍ ته ورسید، ډیر ژر یې د سولې او پخلاینې اړتیا ته پام شو او د پخواني ولسمشر ښاغلي صبغت الله مجددي په مشرۍ یې په ۲۰۰۵ کال کې د سولې یو پروګرام پیل کړ. د "تحکیم صلح" یا د سولې د ټینګښت دغه پروګرام له ناکامۍ سره مخ شو. سره له دې چې ادعا کیږي چې نوموړي پروګرام په ځینو ولایتونو کې لاسته راوړنې درلودلې، خو د یو ملي چوکاټ د نه شتون له امله یوازې د سیمه ییزو شخړو د هوارولو په یو کمیسیون بدل شو (د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۰۱). ډیرې ځارونکي باور لري چې د دې پروګرام جوړول یوازې د ښاغلي مجددي د ملاتړ د راجلبولو لپاره د ښاغلي کرزي یو سیاسي رشوت و.

د سولې او ملي پخلاینې بهیر هغه مهال پر یو ملي لومړیتوب بدل شو چې ښاغلی کرزی په دویم ځل د ۲۰۰۹ کال په ټولټاکنو کې د ولسمشر په توګه وټاکل شو. په خپله پرانیستونکې وینا کې، ښاغلي کرزي د سولې او ملي پخلاینې د پرمخ بیولو لپاره خپله اراده څرګنده کړه. (۲۰۰۹) د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کې د سولې ملي مشورتي جرګه جوړه شوه او د ښاغلي کرزي د سولې او پخلاینې له اجنډا څخه یې په کلکه ملاتړ وکړ (په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت دایمي استازولي).

د سولې په ملی مشورتي جرګه کې د افغانستان د ټولنې له هر قشر څخه ۱۶۰۰ استازو چې د افغانستان له ټول درديدلي ملت استازولي یې کوله، ګډون کړی وو. د سولې د ملي مشورتي جرګې ګډونوال، د ملي شورا غړي، د ولایتي شوراګانو غړي، علما، قومي مشران، د مدني ټولنو استازي، په ایران او افغانستان کې د کډوالو استازي (په ټولیزه توګه ۱۳ کټګورۍ ګډونوال) په کابل کې سره راټول شول ترڅو د نا امنۍ د پای ته رسولو او یوې تلپاتې سولې ته د رسیدو لپاره بحثونه او خبرې اترې ترسره کړي ( د ملي مشورتي جګړې پریکړه لیک ۲۰۱۰). خو هیره دې نه وي چې ډاکټر عبدالله عبدالله چې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو پرمهال د ولسمشرۍ لپاره نوماند و او دغه راز په پارلمان کې د نوموړي ملاتړو په دې جرګه کې ګډون ونکړ.

د سولې ملي مشورتي جرګه له درې ورځنیو بحثونو او نظریاتو وروسته د یو پریکړه لیک په صادرولو پای ته ورسیده. د جرګې ګډونوالو پر افغان حکومت غږ وکړ ترڅو سولې ته د خپلو لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکړي او دغه راز یې له وسله والو مخالفینو هم غوښتنه وکړه چې دغې ملي پروسې سره یوځای شي. دغه راز نوموړې جرګې د مذاکراتو لپاره د یو مشخص چوکاټ سپارښتنه وکړه او د خپلو سپارښتنو په ترڅ کې یې له حکومت څخه د سولې عالي شورا د جوړولو غوښتنه وکړه ترڅو د سولې هڅې پرمخ بوځي. د جرګې غړو په ۲۸ ځانګړو کمیټو کې د سولې د بهیر د پرمخ بیولو لپاره خپلې تفصیلي سپارښتنې حکومت ته وړاندې کړې.

حکومت هم د جرګې سپارښتنې ومنلې او د پخواني ولسمشر ښاغلي پروفیسور برهان الدین رباني په مشرۍ یې د سولې عالي شورا جوړه کړه. د دې شورا د تخنیکي او لوژستیکي چارو د پرمخ بیولو لپاره یې د ښاغلي محمد معصوم ستانکزي په مشرۍ چې د ولسمشر کرزي کلک ملاتړی او سلاکار و، یو اجرائیوي دارالانشا هم رامنځته کړ.

د افغان دولت د سولې او ملي پخلاینې نوښت د نړیوالو همکارانو له جدي ملاتړ څخه هم برخمن شو. د کابل په نړیوال کنفرانس کې چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نیټه جوړ شوی و، د سولې پروګرام تائید شو او نړیوالې ټولنې یې د مالي او سیاسي ملاتړ په موخه خپله ژمنه څرګنده کړه (د افغانستان په اړه د کابل نړیوال کنفرانس ۲۰۱۰). د ولسمشر په توګه د بارک اوباما ټاکل کیدو د متحده آیالاتو په حکومت کې بدلونونو ته لاره هواره کړه او نوموړي هیواد د افغانستان په اړه نوې تګلاره غوره کړه. د متحده آیالاتو نوې اداري هم د افغانستان د اوږدمهالې شخړې د هوارولو لپاره خپله اراده څرګنده کړه او د افغانستان د سولې او ملي پخلاینې له بهیر څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ.

د سولې او ملي پخلاینې بهیر د سولې او بیا ادغام د پروګرام د یوې برخې په توګه د ۲۰۱۰ کال د اګست په میاشت کې پیل شو. دغه پروګرام د سولې اجنډا په دوه کچو تعقیبوله: ۱-د وسله والومخالفینو له مشرتابه سره د سولې او ملي پخلاینې د بهیر پرمخ بیول او ۲-د وسله والو مخالفینو جنګیالیو او سیمه ییزو مشرانو ته قناعت ورکول چې وسله وال تاوتریخوالي څخه لاس واخلي او خپلو کورونو ته راستانه شي. د سولې او بیا ادغام پروګرام د عامو خلکو او نړیوالې ټولنې توقعات ډیر لوړ کړل او له همدې امله نړیوالې ټولنې د ډیرو مالي مرستو او د پروګرام د بشپړ تمویل ژمنه وکړه.

د سولې د مذاکراتو د پیل لپاره د سولې عالي شورا د وسله والو مخالفینو له ډلو سره د اړیکو ټینګولو ګڼ شمیر چینلونه پرانیستل. د سیمې له هیوادونو څخه چې د طالبانو سره یې نږدې اړیکې درلودې غوښتنه وشوه چې طالبان د سولې مذاکراتو ته د راتګ لپاره وهڅوي. خو دغو هڅو هیڅ ډول پام وړ پایله رامنځته نکړه او په تدریجي توګه جګړې شدت وموند او ډیر لږ د ټیټې کچې طالب جنګیالي د سولې له بهیر سره یوځای شول.

سره له دې چې طالبانو د افغان دولت سره مذاکرات تل رد کړي، خو له فرصت څخه په ګټې اخیستنې، په کابل کې د حزب اسلامي مشرانو او په نورو سیمو کې د سولې پلوي مشرانو د افغان حکومت سره د مذاکراتو هڅې لا ګړندۍ کړې. ګڼ شمیر پیژندل شویو استازو کابل ته د حامد کرزي، سولې عالي شورا غړو او د نړیوالې ټولنې له استازو سره د لیدنو کتنو لپاره کابل ته سفرونه وکړل. خو افغان حکومت له حزب اسلامي سره د سولې د مذاکراتو لپاره ډیره علاقه نه څرګندوله او د طالبانو سره یې د سولې عالي شورا او نورو چینلونو له لارې مذاکراتو ته د لارې هوارولو په موخه خپلو هڅو ته ادامه ورکوله. د راند مؤسسه (RAND Cooperation) په خپل یو راپور کې استدلال کوي چې ښایي حامد کرزي او د هغه د حکومت داخلي کړۍ غوښتل چې د طالبانو له مشرتابه او پاکستاني پوځیانو سره په پراخه توګه د سولې یو جوړجاړي ته ورسیږي (شین او دوبین ۲۰۱۱). د حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي په ۲۰۰۷ کال کې د سولې د مذاکراتو په موخه حامد کرزي ته مراجعه وکړه خو هیڅکله و نه توانیدل چې د سولې رسمي مذاکرات پیل کړي (دیرکسین ۲۰۱۸).

په ۲۰۱۴ کال کې د ټاکنیزو کمپاینونو په درشل کې ډاکټر محمد اشرف غني وسله والو مخالفینو سره سولې او ملي پخلاینې ته د خپلو کاري لومړیتوبونو په سرکې ځای ورکړ. د سولې پر بهیر د نوموړي تمرکز، د حزب اسلامي مشران وهڅول چې د ښاغلي اشرف غني سره یوځای شي. دوی د حکمتیار له استازو سره د اشرف غني ناستې ته زمینه برابره کړه. ښاغلي غني د حزب اسلامي مشرانو ته ډاډ ورکړ چې که ولسمشر شو، د حزب اسلامي سره به رسمي مذاکرات پیل کړي.

د ولسمشرۍ د تحلیف په مراسمو کې ښاغلي غني د حزب اسلامي سره د سولې او پخلاینې پر ژمنې بیا ټینګار وکړ. خو هیره دې نه وي چې له ټاکنو څخه هغه ډول چې ډاکټرغني توقع درلوده پایله ترلاسه نه شوه. په ټاکنو کې د درغلۍ تورونو، د ملي یووالي حکومت پر سر هوکړې ته د رسیدلو اوږدمهاله بهیر او د ولسمشر غني او اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله ترمنځ لانجې لامل شوې چې ډاکټر غني و نه شي کړای خپلې انتخاباتي ژمنې

په بریالیتوب سره پلې کړي. لړترلږه دوه کاله د سولې او پخلاینې د ستراتیژۍ د نه شتون له امله د سولې بهیر له بنسټیزې ستونزې سره مخامخ شو. خو د ۲۰۱٦ کال د فبرورۍ په میاشت کې بناغلي غني د سولې په عالي شورا کې پر اصلاحاتو لاس پورې کړ.

د سولې او مذاکراتو د رسمي بهیر له پیل څخه ډېر مخکې، د ملي امنیت شورا چې د ولسمشر استازولي یې کوله او حزب اسلامي د استازو ترمنځ د نارسمي مذاکراتو بهیر روان و. د څو کلونو لپاره د سولې د مذاکراتو پر بنې او ډول او دغه راز د سولې پر کاري کړنلارې بحثونو ادامه درلودله. د مذاکراتو د محرم پړاو په ترڅ کې د باور جوړونې او د دولت د مشرتابه د نیک نیت د څرګندولو په موخه د حزب اسلامي د مشرانو او حکومتی مشرانو ترمنځ او دغه راز د حزب اسلامي سره د سولې د بهیر لپاره د نړیوالې ټولنې د ملاتړ د راجلبولو لپاره ګڼ شمیر ناستې او غونډې ترسره شوې وې.

د ۲۰۱٦ کال د مارچ په میاشت کې په سولې شورا کې د لازمو اصلاحاتو له راوستلو وروسته، له حزب اسلامي سره رسمي مذاکرات پیل شول. د سولې عالي شورا مذاکراتي ټیم د دولت په استازولی او د حزب اسلامي لوړپوړو مشرانو د حکمتیار په استازیتوب دغه بهیر پیل کړ. د ملي امنیت شورا دفتر په مذاکراتو کې عملاً ونډه نه درلودله، خو د ستونزو په هوارولو او د بُن بستونو (بندونونو) په ماتولو کې یې په پروسه کې په فعاله توګه سهم درلود.

## ۳,۲ مساعدوونکي لاملونه

په ۲۰۰۱ کال کې د متحده آیالاتو د پوځي مداخلې چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا رسمي مجوز ورسره و، وروسته د حزب اسلامي د منځنی کچې ځینې مشران افغانستان ته راستانه شول. د حزب اسلامي یو شمیر مشرانو، دا حزب د "حزب اسلامي افغانستان" په نامه د ګلبدین حکمتیار له تائید وروسته د یو سیاسي حزب په توګه رسماً ثبت او راجستر کړ او د طالبانو له سقوط وروسته یې په سیاسي بهیر کې پراخه ونډه واخیستله. د حزب اسلامي د منځنی کچې نورو رهبرانو هم د حزب اسلامي څخه د جلا شویو څانګو په توګه په کابل کې فعالیت پیل کړ او د دموکراتیک رژیم سره یوځای شول. د ۲۰۱۴ کال تر پایه لږترلږه د حزب اسلامي شپږ څانګو په کابل کې سیاسي فعالیت کاوه (دیرکسین ۲۰۱۸). په سیاسي بهیر کې د دغو رهبرانو حضور دوی ته لاره هواره کړه او ځینو یې آن د افغان حکومت په کابینه کې د وزیرانو په توګه دندې ترسره کړې.

کابل میشتو حزب اسلامي مشرانو د حزب اسلامي د هغه مشرتابه سره چې لا د افغان دولت او نړیوالې ټولنې سره په جګړه بوخت و، د اړیکو د کانالونو په رامنځته کولو کې ډېره مرسته وکړه. د افغان حکومت او د حزب اسلامي جګړه کوونکې څانګې ترمنځ د اړیکو او تماسونو هڅو تر ډېرې مودې ادامه درلوده. د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ منظمې اړیکې د رسمي مذاکراتو د پیل لامل نه شوې او حزب اسلامي له دولت سره خپله آیډیالوژیکي او چریکي جګړې ته ادامه ورکړه. د حزب اسلامي یوه مهمه غوښتنه له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو وتل و. دغه راز حزب اسلامي د اساسي قانون د تعدیل او تجدید غوښتنه کوله او تل یې ټینګار کاوه چې باید د یوې آزادې او مستقلې ادارې ترڅارنې لاندې آزاد او خپلواک انتخابات ترسره شي.

وروسته له دې چې بارک اوباما د متحده آیالاتو د ولسمشر په توګه وټاکل شو، د افغانستان او پاکستان په اړه یې خپله نظامي او ملکي ستراتیژي اعلام کړه. د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۲۷ نیټه د متحده آیالاتو ولسمشر په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د زیاتولو چې بیا به په ۲۰۱۴ کال کې د دغه ځواکونو بشپړو وتلو ته لاره هواره کړي، اعلان وکړ. هغه دغه راز د هغو وسله والو مخالفینو سره چې د افراطي او تروریستي ډلو څخه د جلا کیدو هوډ ولري او د سولې له بهیر سره یوځای کیدل وغواړي، د سولې او پخلاینې شونتیا هم زیاته کړه (کلینټن ۲۰۱۴). د ستراتیژۍ دې بدلون د حزب اسلامي سوله خوښې مشران وهڅول چې له خپل مشرتابه څخه د سولې په مذاکراتو کې د ګډون غوښتنه وکړي.

بل هغه لامل چې د حزب اسلامي مشران یې د افغان حکومت سره د سولې خبرو ته اړ کړل دا و چې دې ډلې په پوځي ډګر کې خپله برلاسي طالبانو ته بایلله. حزب اسلامي د کورنۍ جګړې پر مهال او هغه وخت چې له طالبانو سره په جګړه کې ښکیل و هم خپل سیاسي او نظامي کدرونه له لاسه ورکړي و. دې ډلې د نړیوالې ټولنې سره په جګړه کې هم تر خپلې ولکې لاندې سیمې له لاسه ورکړې وې او ډیری جنګیالي یې له طالبانو سره یوځای شوي و او طالبان د جګړې په ډګر کې چې د نړیوالې ټولنې او افغان حکومت سره په وسله واله مبارزه کې ښکیل وه مهمه ډله بلل کیدله. په دغه برخه کې طالبانو د ټولو پاملرنه ځانته جلب کړې وه.

په اصل کې طالبانو د متحده آیالاتو د نوې ستراتیژۍ او د افغان حکومت د سولې د پروګرام په محراق کې قرار درلود. د ۲۰۰۰ کلونو په جریان کې د طالبانو او بهرنیو دیپلوماتانو ترمنځ ګڼ شمیر محرمې او پټې ناستې ترسره شوې، دغه راز د افغانستان په شخړه کې نورو ښکیلو اړخونو-بهرنیو هیوادونو او خپلواکه سرچینو- خپلې ټولې مالي او تسلیحاتي مرستې له طالبانو سره کولې او حزب اسلامي د سرچینو د کمښت سره مخامخ شو چې په پایله کې یې نه شو کولای چې وسله والې مبارزې ته د تیر په څیر ادامه ورکړی.

د حزب اسلامي مشرتابه په ځانګړې توګه هغوی چې په بهر کې میشت و او په عملي توګه په جګړه کې ښکیل نه و، دې حقیقت ته ورسیدل چې نوموړې ډله ورو ورو د افغانستان په مسائلو کې خپل اهمیت له لاسه ورکوي. نو له همدې امله د حزب اسلامي بارسوخه مشرانو باید په خپلې اوږدمهالې ستراتیژۍ کې بنسټیز بدلون راوستلی وای او باید په سیاسي بهیرونو کې دخیل شوي وای ترڅو خپل له لاسه تللی اهمیت یې بیرته ترلاسه کړی وای. سوله پلوي ستراتیژیستان د متحده آیالاتو په دې اعلان سره چې خپل ځواکونه له افغانستان څخه باسي او دغه راز د افغانستان د دولت د سولې د پروګرام د پیلیدو په پایله کې د سولې له بهیر سره یوځای کیدو ته تشویق شول.

## ۳،۳ هیلې (توقعات)

د حزب اسلامي سره د سولې او پخلاینې د بهیر په جریان کې ټولو خواوو په څرګنده توګه خپل توقعات درلودل، خو افغان دولت و نشو کړای چې خپل توقعات عامو وګړو او خپلو نورو همکارانو او شریکانو ته د منظمو تبلیغاتي او عامه پوهاوي د پروګرامونو له لارې ورسوي.

څرنګه چې حزب اسلامي له مذاکراتو څخه په مخکې کلونو کې د هیواد ډیرې کوچنۍ سیمې تر ولکې لاندې درلودلې، افغان دولت او د سولې عالي شورا په دې پوهیدل چې له حزب اسلامي سره سوله به په هیواد کې د ناوتریخوالي او بې ثباتۍ په کچه دومره اغیزه ونلري، خو بیا یې هم غوښتل چې دا بهیر له حزب اسلامي سره پرمخ بوځي ترڅو د نورو مخالفو وسله والو ډلو سره د سولې په برخه کې خپله سیاسي اراده په عملي توګه څرګنده کړي. افغان حکومت باوري و چې له حزب اسلامي سره سوله به د د سوله پلویو طالبانو اراده او ژمنتیا هم د سولې لپاره پیاوړې کړي.

د حزب اسلامي سوله پلوي مشران هم پوه شوي و چې کیدای شي د وسله والې مبارزې په دوام سره خپلو موخو ته ونه رسیږي. د ملکي تلفاتو دوامداره زیاتیدنه بل دلیل و چې حزب اسلامي یې له دې ویرې چې نور هم په خلکو کې خپل ملاتړ له لاسه ورنکړي د سولې مذاکراتو ته اړ ویست. دغه راز د طالبانو بیا راڅرګندیدنه او د سیمې د هیوادونو ملاتړ له دغه ډلې څخه د حزب اسلامي موقف تر یو حده کمزوری کړ. په پایله کې یې د حزب اسلامي مشرانو هڅې پیل کړې ترڅو د شخړې د هواری یو داسې پریکړې ته ورسیږي چې دواړه لوري پکې ګټندوی وي. له بله پلوه د متحده آیالاتو په دې اعلان سره چې ګواکې امریکایي پوځونه به د ۲۰۱۴ کال په پایې کې له افغانستان ووځي، د حزب اسلامي یوه غوښتنه ترسره شوه او په همدې دلیل سره د حزب اسلامي مشرانو له ښاغلي حکمتیار څخه غوښتنه وکړه چې د سیاسي مذاکراتو پیل ته غاړه کیږدي.

حزب اسلامي پریکړه وکړه ترڅو خپله اجندا وروسته له دې له سیاسي لارې تعقیب کړي. دې حقیقت ته په پام سره چې په افغانستان کې شخړه یو جدي ولاړ حالت ته رسیدلې ده، حزب اسلامي درک کړې وه چې یوازې کولای شي دا ستونزه د مذاکراتو له لارې حل کړي. بله اندیښنه چې حزب اسلامي درلودله دا وه چې که طالبان د سولې به بهیر سره یوځای شي نو د حزب اسلامي د سولې بهیر به تر سیوري لاندې راشي نو له همدې امله د دې ډلې سوله پلویو مشرانو د سولې لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړې.

# ۴. د سولې مذاکرات او پایلې

له حزب اسلامي سره د سولې بهیر لکه د سولې د نورو بهیرونو په څیر خپل عادي پړاوونه لکه له مذاکراتو- مخکې- مذاکراتي پړاو، د مذاکراتو پړاو او د هوکړه لیک د لاسلیک پړاو تعقیب کړ. له مذاکراتو څخه مخکې په غیررسمي پړاو کې چې د ۲۰۱۵ کال څخه د ۲۰۱٦ کال تر لومړیو پورې یې ادامه درلوده، د افغانستان د دولت په استازیتوب د ملي امنیت شورا دخیله وه. محمد حنیف اتمر د ملي امنیت سلاکار، د حزب اسلامي او افغان ولسمشر اشرف غني ترمنځ د سولې د خبرو اصلي آسانچاری و. ولسمشرغني ته د ښاغلي اتمر مستقیم لاسرسي نوموړي ته دا وړتیا وربخښلې وه چې د حزب اسلامي سره اړیکې ټینګې کړي او په ورته وخت کې یې د نوموړي ډلې اعتماد د مذاکراتو پر بهیر زیات کړی و. له مذاکراتو مخکې- مذاکراتي بهیر دعامو خلکو له نظرونو پټ ترسره شو. په دې دوره کې حزب اسلامي او افغان دولت د مذاکراتو پر طرزالعمل او ډول، د دواړو خواو د غوښتنو په شریکولو او د باور جوړونې په موضوعاتو بحثونه ترسره کړل.

رسمي مذاکرات د محرمو مذاکراتو څخه وروسته پیل شول. افغان دولت د رسمي مذاکراتو مسؤلیت د سولې عالي شورا او حزب اسلامي د مذاکراتو مسؤلیت هغه پلاوي ته وسپاره چې د مذاکراتو مخکې مذاکراتي مرحله کې دخیل و.

## ۴،۱ د مذاکراتي ټیمونو جوړښت او وړتیا

### ≡ الف: د مذاکراتي ټیمونو جوړښت او کاري چلند

د سولې عالي شورا له حزب اسلامي سره مذاکرات پرمخ یوړل. د سولې عالي شورا په مذاکراتي ټیم کې د نوموړې شورا درې مرستیالان، عطاالرحمن سلیم، حبیبه سرابی او عبدالخبیر اچقون او دغه راز د سولې عالي شورا د دارالانشا رئیس ښاغلی محمد ایوب رفیقي شامل وو. د مذاکراتي ټیم غړیو له بیلابیلو سیاسي، ټولنیزو او آیډیالوژیکو قشرونو څخه استازولي کوله. د مذاکراتي ټیم مشري د ښاغلي عطاالرحمن سلیم په غاړه وه چې حزب اسلامي د څلورو لسیزو د رقیبې ډلې یعنې جمعیت اسلامي سره تړاو لري. ښاغلی اچقون د جنبش اسلامي د ګوند لوړپوړی غړی دی. نوموړي ګوند په کورنیو جګړو کې تل خپل دریځ له بیلابیلو ډلو سره د یوځای کیدلو له لارې بدل کړی دی. حبیبه سرابي چې د ښځو د حقونو یوه سرسخته فعاله ده، ادعا لري چې له هیڅ ډول سیاسي ګوند یا ډلې پورې تړاو نلري.

د سولې عالي شورا نامتجانس مذاکراتي ټیم او د حزب اسلامي او جمیعت اسلامي تاریخي سیالی ډیری مهال د هدفمندو مذاکراتو مخنیوی کاوه او څو څو ځله بحثونه له دریدلي حالت یا بُنبست سره مخامخ شول. پخوانیو مخالفتونو به د هوکړه لیک پر هره ماده د ترخو بحثونو راپاریدلو ته زمینه برابروله.

ډیری مهال به مذاکراتي ټیمونو دریم اړخ ته د منځګړي په توګه اړتیا درلودله. د ښاغلي اشرف غني په استازیتوب د ملي امنیت د شورا سلاکار ښاغلي اتمر په ټول مذاکراتي بهیر کې ډیر مؤثر او اغیزمن رول لوباوه. له حزب اسلامي سره د سولې له مذاکراتو څرګنده شوه چې د مذاکراتو په ترڅ کې هغه شخصیتونه چې د دواړو خواو د باور وړ وي کولای شي د بُنبست یا دریدلي حالت په ماتولو کې چې د مذاکراتي طرفونو د متضادو دریځونو څخه رامنځته کیږي، مهم رول ولوبوي.

د حزب اسلامي په مذاکراتي ټیم کې محمد کریم امین او عتیق الله صافی شامل وو. د سولې د بهیر په پرمختګ او رسمي کیدو سره ډاکټر غیرت بهیر، چې د حزب اسلامي له مشرانو څخه شمیرل کیږي، هم له ټیم سره یوځای شو. د حزب اسلامي مذاکراتي ټیم په ټول بهیر کې ثابت پاتې شو.

دې ټیم د مذاکراتو او د سولې او پخلاینې لپاره خپل لیدلوری وارله مخه د افغان شخړې د تحلیل پر بنسټ ټاکلی و. څرنگه چې ډیرو سیمه ییزو لوبغاړو د سولې په بهیر کې منفي او زیانمن کوونکی نقش لوباوه، نو له همدې امله د حزب اسلامي مذاکراتي ټیم د حزب له هغو غړو جوړ و چې په بهر کې میشت وو، ترڅو د سیمې له سیاسي لوبو او د حزب اسلامي د منځنی کچې د مشرانو له اغیزې څخه واټن ولري. کریم امین له فرانسې او عتیق الله صافي له جرمني څخه چې دواړه د اړوندو هیوادونو تابعیتونه لري، په مذاکراتو کې شامل وو.

د سیمه ییز اغیز څخه د لیرې والي ترڅنگ، دواړه پورته ذکر شوي شخصیتونه د حزب اسلامي د مشرتابه له ځانگړې درناوي څخه هم برخمن وو، ځکه چې د اوږدې مودې لپاره نوموړو دوه کسانو له مالي پلوه دغه ډله تمویل کړې وه او د نظامي اجندا د پرمخ بیلو او د روزنیزو زیربناو د ساتنې لپاره دوی مالي مرستو ته اړتیا درلوده. د مالي سرچینو د برابرولو او د حزب اسلامي د تولنیزو کړنو د پرمخ بیولو لپاره د مالي مرستو په لیرد کې دواړو نقش درلود او له همدې امله د حزب اسلامي د مشرتابه له ځانگړي اعتماد څخه برخمن وو. نو دغه دوه کسان د حزب اسلامي د استازیتوب لپاره ډیر مناسب شخصیتونه بلل کیدای شي.

اروپا میشتو دوه گوني تابعیت، مذاکره کوونکو ته زمینه برابره کړه ترڅو په افغانستان کې د اروپایې اتحادیې د سفیر ښاغلي فرانس میلیین سره ښې اړیکې ولري. میلبین د نړیوالې اجماع د رامنځته کولو او د سترو ښُبستونو پرمهال منځگړیتوب او د حزب اسلامي مذاکره کوونکو ته د صبر او حوصلې د سپارښتنو په برخه کې مهم نقش ولوبوه. په فرانسوي او انگریزي ژبه د کریم امین پوهاوي کریم امین سره مرسته وکړه چې د نړیوالو همکارانو ملاتړ هم ترلاسه کړي.

دواړو کریم امین او صافي تقریباً د یوې لسیزې په ترڅ کې د افغان حکومت سره مذاکرات د ترسره کولو لپاره د حزب اسلامي د غړو ترمنځ د سولې او پخلاینې هلې ځلې کولې. . په فرانسه کې ښاغلي کریم د سولې او آزادی تر سرلیک لاندې یو کمیسیون جوړ کړی و چې په لومړي ځل یې په ۲۰۰۷ کال کې د ۴۰۰ کډوالو په گډون یوه غونډه ترتیب کړه. دغه راز نوموړي د "پیام نو" په نامه یو تلویزیوني پروگرام هم پرمخ بیوه چې په افغانستان کې یې د سولې او پخلاینې لپاره مثبت تبلیغات کول. د څلویښت کلنې جگړې د پای ته رسولو لپاره دې دواړو شخصیتونو ستراتیژیک او آیدیالوژیک تعهد د سولې د بهیر په بریالیتوب کې مهمه ونډه درلودله.

د حزب اسلامي د مذاکراتي ټیم بل مهم غړی ښاغلی غیرت بهیر هم د مذاکراتو لپاره یو مناسبه ټاکنه وه. نوموړی د حزب اسلامي د مشر زوم او نږدې سلاکار دی چې د یوې اوږدې مودې لپاره ورسره نږدې پاتې شوی دی. ښاغلی بهیر په ۲۰۰۲ کال کې امریکایي ځواکونو ونیوه او د شپږو کلونو لپاره په زندان کې وساتل شو. نوموړی د پخواني ولسمشر ښاغلي کرزي په ځانگړې مداخلې او ملاتړ سره په ۲۰۰۸ کال کې له بند څخه راخلاص شو. له هماغه وخته ښاغلي بهیر د حکمتیار او کرزي ترمنځ د منځگړي رول په ښه توگه ادا کړ.

ولسشمر هم د ښاغلي بهیر سره منظمې اړیکې درلودلې او همدا دلیل و چې نوموړی هم د حزب اسلامي د مشرتابه پلاوي ترمنځ د سولې او پخلاینې له بهیر څخه ملاتړ وکړي. په ۱۹۸۲ کال کې چې ښاغلی بهیر لا ځوان و او د افغان جگړې لومړي پړاوونه و، بهیر د یو روسي پلاوي سره هم مذاکراتو کې گډون کړی و. دغه راز غیرت بهیر د مجاهدینو د تنظیمونو او د وخت افغان حکومت ترمنځ په مذاکراتو کې په عراق او په لیبیا کې، چې د معمرالقذافی لخوا ورته آسانتیا برابره شوې وه هم د حزب اسلامي په استازیتوب گډون کړی و. نوموړي دا راز په لندن کې هم په د مذاکراتو په یوه دوره کې گډون کړی و. په تیر کې د مذاکرتو د تجربې او د حزب اسلامي د رهبری باور له ځانه سره درلودل هغه څه وو چې نوموړی د مذاکراتو لپاره پر یو وړ او مناسب شخص بدل کړي.

### ب: د مذاکراتي ټیمونو وړتیا

د سولې عالي شورا او افغان حکومت د سولې د بهیر لپاره دومره چمتو نه و. مذاکراتي ټیم کافي تجربه نه درلوده، هیڅ ډول معلوماتي او روزنیز پروګرام ورته نه و برابر شوی، هیڅ ډول مفکوره یې نه درلوده چې باید په کوم روش مذاکراتو ته داخل شي او څه ډول پرستونزو برلاسی ومومي. له نیکه مرغه، د ملي امنیت د شورا سلاکار، ښاغلی اتمر، چې د حزب اسلامي سره د سولې د بهیر مهندس و د یو پیاوړي سیاستوال په توګه په لوړه کچه په دغه بهیر کې ډیر مثبت نقش ولوبوه. د نوموړي شتون د سولې عالي شورا د مذاکره کوونکي ټیم ظرفیتي خلا تر ډیره حده جبران کړې وه.

د مذاکراتي ټیم د چمتووالي لپاره، د سولې عالي شورا دارالانشا رئیس، د ملګرو ملتونو د سیاسي نمایندګی یا یوناما څخه د سولې شورا د غړو لپاره د رسمي مذکراتو په برخه کې د یو روزنیز ورکشاپ د دایرولو غوښتنه وکړه. ملګرو ملتونو د نوموړي غوښتنې ته په مثبت ځواب ورکولو سره د سولې عالي شورا غړو لپاره یو روزنیز ورکشاپ جوړ کړ چې پکې د مذاکراتو تخنیکونه او د نړۍ د مذاکراتو تجارب د سولې عالي شورا له غړو سره شریک شول. دا ورکشاپ د یو نړیوال متخصص لخوا پرمخ یوړل شو.

سره له دې چې د حزب اسلامي مذاکره کوونکو د مذکراتو په برخه کې رسمي روزنه نه وه ترلاسه کړې، اما د سولې عالي شورا سره په مذاکراتو کې برلاسي و. لامل یې ممکن دا وي چې حزب اسلامي له هماغه پیله له مذاکراتو څخه له ځان لپاره موخې، څرګند لرلید او د مذاکراتو حدود ټاکلي و. د ښاغلي بهیر پوځي او سیاسي تجربې د مذاکراتو په بهیر کې مذاکراتي ټیم ته یو اضافي ارزښت وربخښلی و.

## ۴,۲. د سولې مذاکرات او د هوکړه لیک د مسودې لیکنه

کله چې د سولې او پخلاینې د مذاکراتو لپاره د حزب اسلامي چمتووالي و ارزول شو څرګنده شوه چې حزب اسلامي له هماغه لومړیو کلونو راهیسې کله چې د افغانستان حکومت د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د میاشتې له بریدونو څخه وروسته رامنځته شو، د مذاکراتو لپاره پلان او ستراتیژي طرح کړې وه. د سولې عالي شورا او افغان دولت برخلاف چې اکثره کړنو یې عکس العملی بڼه درلوده، د حزب اسلامي چلند فعال او مبتکرانه و.

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې حزب اسلامي داسې یو سند جوړ کړی و چې د ملي ژغورنې میثاق یې باله. په نوموړي سند کې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د لنډمهالې ادارې پر رامنځته کولو ټینګار شوی و. حزب اسلامي په ۲۰۱۵ کال کې خپل رسمي مذاکرات افغان دولت ته د یو سند په سپارلو  چې د سولې او پخلاینې طرحه یې نوموله وه او د ملي ژغورنې له میثاق څخه اقتباس شوې وه، پیل کړل. پر دغه سند له لومړیو بحثونو څخه څرګنده شوه چې  نوموړی سند په ټولیزه توګه د حزب اسلامي پر غوښتنو متمرکز و او ځینې غوښتنې خو دومره جدي او توندې وې چې د سولې او مذاکراتو بهیر یې په آسانی له ناکامی سره مخامخ کولای شو. په دغه سند کې لازم اصلاحات راوستل شول، د حزب اسلامي له سند څخه ځینې شرطونه او د افغان دولت وړاندیزونه پکې ځای پرځای شول.

مذاکراتو پر نوي سند، چې د دواړو خواو نظریات پکې ځای پرځای شوي و، پیل او پرمخ ولاړل. اما د سند پر هرې مادې مذاکره او بحث د دې لامل شول چې دواړه اړخونه څو څو ځله له بُنبست سره مخامخ شي. خو کله چې لانجمن موضوعات یوې خواته پرېښودل شول ترڅو وربانديې وروسته بحث وشي، نو پر هغو موضوعاتو چې ډیر لانجمن نه و مذاکرات ډیر په آسانه پرمخ ولاړل.

د حزب اسلامي مذاکره کوونکي ټیم په واضح توګه د سولې د هوکړې لپاره پر خپلو حدودو او ټولو جزئیاتو پوهیده. اصلي سند چې د مذاکراتو په پیل کې سپارل شوی و د حزب اسلامي د مشرتابه د لرلید استازولي یې کوله، خو د مذاکراتو په جریان کې او کله چې په سند کې د پام وړ بدلونونه راتلل، مذاکره کوونکي ټیم به په منظمه توګه له مشرتابه سره اړیکې نیولې.

خو له بله پلوه، د سولې عالي شورا مذاکره کوونکی ټیم مکلف و ترڅو د ملي یووالي حکومت د اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله ملاتړ هم راخپل کړي، ځکه نوموړي له هغه ډلې څخه استازولي کوله چې پخوا یې له حزب اسلامي سره سیالي او دښمني درلودله. د سولې عالي شورا د مذاکره کوونکي ټیم مشرښاغلي عطاالرحمن سلیم او د ملي امنیت د شورا سلاکار ښاغلي محمد حنیف اتمر به د هوکړه لیک د مادو په هکله ټول جزئیات په ورځني او منظمه توګه له ډاکټر عبدالله سره شریکول. له سیاسي رهبرانو سره به هم د هوکړه لیک مسوده په منظمه توګه شریکیدله او له پرمختیاو څخه به خبریدل.

معلومات به دغه راز له نړیوالو همکارانو سره هم شریکیدل او مشورتي ناستې به هم ورسره ترسره کیدلې، چې د دوی په غوښتنه هم د هوکړه لیک په مسوده کې د پام وړ بدلونونه راغلل. د سولې عالي شورا د دارالانشا د رئیس د څرګندونو پر بنسټ، د سولې دغه هوکړه لیک د طرفینو د مذاکراتو له هوکړې وروسته ۳۷ ځله تعدیل شو چې ۲۵ ځله پکې تعدیلات او بدلونونه یوازې د نړیوالې ټولنې اندیښنو ته د ځواب ورکولو لپاره راغلل.

سره له دې چې د حزب اسلامي سره د سولې او پخلاینې بهیر په اړه د ملي اجماع رامنځته کولو او بیلابیلو خواوو راګډولو له د غه بهیر څخه د ټولو د ملاتړ زمینه برابره کړه، خو د پروسې د ځنډیدو لامل هم شو. د حزب اسلامي استازي له دې امله چې هوکړه لیک د مذاکره کوونکو او نورو بیلابیلو لوبغاړو ترمنځ ډیر زیات لاس په لاس شو او ګن شمیر اړخونو پکې نظریات ورکړل، ډیر بې حوصلې او ستومانه شول. دغه راز په ځینو مواردو کې د هوکړه لیک د مسودې جملې او عبارتونو کې بدلونونه دومره د حزب اسلامي لپاره حیثیتي کیدل چې نږدې وه د مذاکراتو بهیر له ماتې سره مخامخ شي. د مذاکراتي بهیر له ارزونې څخه څرګندیږي چې دواړو خواوو د مذاکراتو حدود او ځانګړنې له بل لوري او یا د نورو سیاسي لوبغاړو سره په واضح توګه نه و ټاکلي، د مذاکراتو په هر پړاو کې د هوکړه لیک په متن او مسوده کې جدي او د پام وړ بدلونونه راوستل کیدل. دا موضوع ډیره د سولې عالي شورا او افغان حکومت او په لږه اندازه حزب اسلامي ته راجع کیږي.

## ۴,۳ د مدني ټولنو او نویو سیاسي ګوندونو سره سلا مشورې

ولسمشر کرزی د سولې او پخلاینې د بهیر له مخکښانو څخه دی. نوموړي په نارسمي توګه د حزب اسلامي له رهبرانو سره په کابل او له هیواد څخه بهر هوکړه کړې وه چې د غیرپوځي لارو به د جګړه مارو ډلو سره د سوله بیزې حل لارې په لټولو سره په هیواد کې یوه بې ساری بیلګه رامنځته کړي. په دې مانا چې د مذاکراتو څخه مخکې-مذاکراتي پړاو د ښاغلي کرزي لخوا چې ډیر پکې ملي او نړیوال لوبغاړي ښکیل نه و ترسره او پرمخ وړل شوي و.

کله چې رسمي مذاکرات پیل شول، د افغانستان دولت د سیاسي نخبه ګانو او نړیوالې ټولنې سره لازمې سلا مشورې پیل او ترسره کړې. خو د بهیر په جریان کې د مدني ټولنو او کوچنیو سیاسي ګوندونو سره هیڅ ډول مشوره ترسره نه شوه. سره له دې چې د حزب اسلامي او مدني ټولنو ترمنځ ډیرې ناستې ترسره شوې ترڅو دواړه لوري یو د بل له نظریاتو څخه خبر شي خو د مدني ټولنې استازو او سیاسي کوچنیو ګوندونو هیڅکله په مستقیمه توګه په مذاکراتو کې ګډون و نه کړ او پکې دخیل نه شول چې په پایله کې یې د هغوی او په ځانګړې توګه د ښځو اندیښنې کله چې حزب اسلامي سیاسي سیستم ته داخل شو، په پام کې و نه نیول شوې. انتقالي عدالت او د جګړې د قربانیانو شکایتونو ته رسیدګي چې د دوی اساسي غوښتنې وې د سولې په هوکړه لیک کې هم په پام کې نه وې نیول شوې.

د مدني ټولنې له استازو او د نويو راټوکيدلو سياسي ګوندونو سره د سلام مشورې د نه ترسره کولو لامل کيدای شي د حکومت تلوار و، ترڅو مذاکرات په ګړندۍ توګه د ملي او نړيوالو ورانکارو د ناوړه اغيزو پرته ترسره او په بيړه د سولې هوکړه ترلاسه شي. سره له دې چې د سولې د بهير ماتيدونکې حالت ته په پام او په تير کې د منفي ورانکارو اغيزو له امله د حکومت دغه تلوار د درک وړ و، خو د ټولنې د يو لوی قشر نه دخيلول کيدای شي داسې تعبير شي چې ګواکې اجماع شتون نه درلود او د هوکړه ليک په بريالیتوب سره پلي کول به له ګواښ سره مخامخ شي.

## ۴,۴ د سولې د هوکړه ليک منځپانګه

د سولې هوکړه ليک چې د افغان ولسمشر ښاغلي اشرف غني او د حزب اسلامی د مشر ښاغلي ګلبدين حکمتيار لخوا لاسليک شو، د يوې اوږدې او ستومانه کوونکې مذاکراتي پروسې څخه چې په ترڅ کې يې دوه سندونه له يو بل سره مدغم او نهايي متن ځو ځله اصلاح او تعديل شو، لاسته راغلی دی. دا سند سياسيونو پرته له دې چې د سولې او مذاکراتو متخصصين او په دغه برخه کې د تجربې خاوندان پکې نظر ورکړی، نهايي کړی و، له همدې امله نوموړي هوکړه ليک کې د حقوقي او تخنيکي پلوه لازمو وضاحتونو شتون نه درلود.

په هوکړه ليک کې ډير زيات موضوعات تر پوښښ لاندې راغلي دي چې د تعزيراتو له لست څخه د حزب اسلامي د مشرتابه د نوم ليرې کول، د نوموړي حزب د کډوالو لپاره د ځمکې ځانګړې کول، په افغان حکومت کې حزب اسلامي ته ونډه ورکول او د حزب اسلامي د زندانيانو خلاصون پکې شامل دي. خو څرنګه چې پر دغو موضوعاتو هوکړه د اهل خبره له نظرياتو پرته ترسره شوې وه، د هوکړې پلي کول ځو ځله له حقوقي پلوه له خنډونو سره مخامخ شو.

د هوکړې د پلي کولو لپاره هيڅ ډول تضمين کوونکي په پام کې نه دي نيول شوي. سره له دې چې افغان حکومت د سولې د بهير په افغاني مالکيت او رهبرۍ ټينګار کاوه، خو بايد داسې تضمينونو شتون درلودای چې دواړه لوری يې د هوکړه ليک د موادو د پلي کولو لپاره مکلف او ملزم ګرځولي وای. تضمين کوونکو ته -ملي وي او که نړيوال- اړتيا ده ترڅو دواړه لوري د هوکړه ليک د پلي کولو پر مهال خپلو ژمنو ته متوجه کړي او د ژمنو عملي کول ورباندې لازمي کړي.

د سولې هوکړه ليک دغه راز داسې مناسب ميکانيزم چې د هوکړې د پلي کولو پر مهال يې پر بنسټ اختلافات حل شي او يا د هوکړې مواد ورباندې تفسير شي، په نظر کې نه و نيولی. د هوکړه ليک ۲۴ ماده د بيلګې په توګه اشاره کوي چې: " د توافقليک په اړه د هر ډول ممکن اختلاف رامنځته کېدو په صورت کې به دواړه لوري د دوستانه مشورو او مذاکراتو له لارې، په نېک نيتۍ سره او په هغه ګډ کميسيون کې د حل و فصل لارې لټوي چې غړي به يې د دواړو لوريو لخوا ټاکل کېږي".

په هوکړه ليک کې بله تخنيکي ستونزه دا ده چې د هوکړه ليک د تطبيق د پرمختګ د اندازه کولو، څارنې او ارزونې لپاره پکې هيڅ ډول څارنيز ميکانيز په پام کې نه دی نيول شوی. د هوکړه ليک په لاسليک سره، ولسمشر غني د حزب اسلامي سره د سولې د هوکړه ليک د پلي کولو لپاره يو ګډ کميسيون رامنځته کړ چې په جوړښت کې يې دولتي چارواکي، د سولې عالي شورا غړي او د حزب اسلامي استازو ګډون درلود. د ګډ کميسيون ځينو غړو څرګنده کړه چې د هوکړه ليک د پلي کولو د پرمختګ د څارنې او ارزونې لپاره د يو څارونکي او ارزونکي بنسټ شتون کيدای شي له داخلي او نړيوالو همکارانو او لوبغاړو سره مرسته کړې وای چې د هوکړه ليک د تطبيق پروسه يې په خپلواکه توګه ارزولې وای. دواړه خواوې د اوسني بُنبست د شتون پړه او ملامتي يو پربل اچوي. دا په داسې حال کې ده چې حکومت ادعا لري چې د هوکړه ليک د پلي کولو په برخه کې يې ټولې ژمنې عملي کړې دي، له بله پلوه د حزب اسلامي غړي د سولې د هوکړه ليک د پلي کولو په برخه کې له نه پرمختګ څخه رسمي شکايت کوي.

د هوکړه لیک ډیری مادې د پالیسۍ کچې عمومي بیانونو ته ورته دي او د تطبیقي پلان لپاره هیڅ ډول کاري میکانیزم او طرزالعمل نه طرح کوي. دغه راز دا هوکړه لیک د سولې او مصالحې لپاره تولیز لاربنودونه وړاندیز کوي، خو د یو کاري پلان نه شتون د هوکړه لیک د پلي کیدو اندازه کول تقریباً ناممکنه کړي دي.

مذاکره کوونکو د سولې د بهیر د مذاکراتو او دغه راز د سولې د هوکړه لیک د لیکلو په برخه کې هیڅ دول تجربه نه درلودله. دوی دغه راز د نورو هیوادونو د سولې د بهیرونو د بریالیتوبونو او ناکامیو په اړه د لومړي لاس هیڅ ډول پوهاوی نه درلود، ځکه که دوی دا ډول پوهه درلودای، دوی سره به یې د داسې یو سند په جوړولو کې چې په آسانه پلی شي او په اغیزمنه توګه حزب اسلامي د یوې نظامي ډلې څخه په یو سیاسي گوند بدل کړي، مرسته کړې وای. دا موضوع د سولې او ملي پخلاینې لپاره د افغان دولت د نه چمتووالي بله ستره بیلګه ګڼل کیدای شي.

# ۵. د سولې د هوکړه لیک تطبیق

## ۵,۱ تشکیلاتي جوړښت

وروسته له دي چي د افغان دولت او حزب اسلامي ترمنځ د ۲۰۱٦ کال د سپتمبر په میاشتې کې د سولې هوکړه لیک لاسلیک شو، ولسمشر محمد اشرف غني د یو فرمان په ترڅ کې د حزب اسلامي سره د سولې د هوکړه لیک ګډ کمیسیون رامنځته کړ. د نوموړي کمیسیون د ریاست مسؤلیت په سیاسي چارو کې د ولسمشر ځانګړي استازي ته ورکړل شو. د ملي امنیت د شورا او د ملي امنیت د ریاست مرستیالانو د دولت په استازیتوب په دې کمیسیون کې غړیتوب درلود. د سولې عالی شورا څلور مرستیالان چې درې تنه یې وار له مخه په مذاکراتو کې شامل وو او د حزب اسلامي د مذاکراتي پلاوي دوه غړو یعنې د ټیم مشر او یو غړي هم د دې کمیسیون غړیتوب درلود.

په لومړیو کې د سولې عالي شورا دارالانشا د حزب اسلامي سره د هوکړه لیک د ګډ کمیسیون تر نظرلاندې د سولې د هوکړه لیک اجرائیوي کړنې اوتطبیق په غاړه درلودل. خو د کافي مالي سرچینو او ظرفیت د نه شتون له امله د نوموړي کمیسیون په چوکاټ کې یو جلا تطبیقي دارالانشا رامنځته شو.

نوي دارالانشا د سولې د هوکړه لیک د پلي کولو د څارنې لپاره د هوکړې د مشخصو مادو پر بنسټ څو کمیټې رامنځته کړې. دغو کمیټو د حقوقي/زندانیانو د خلاصون، بیا ادغام، کډوالو چارو، د ملکي او پوځي چارواکو بیا ادغام او د شهیدانو او معلولینو د چارو اړوند مسؤلیتونه په غاړه درلودل. د هوکړه لیک د نورو برخو د پلي کولو مسؤلیت اړوندو دولتي اداراتو او وزارتونو ته وسپارل شو چې د هوکړه لیک د پلي کولو دارالانشا ته یې هیڅ ډول مسؤلیت نه درلود. د بیلګې په توګه د ملي امنیت شورا دفتر دنده درلوده چې د حزب اسلامي د مشرتابه نومونه د ملګرو ملتونو د تعزیراتو له نوملړ څخه حذف کړي، دغه راز د ملي امنیت عمومي ریاست مکلف و ترڅو د وسلو د راټولولو، ملکي کولو او ادغام په برخه کې هوکړه لیک پلي کړي.

پورته ذکر شوي کمیټې د حزب اسلامي د هوکړه لیک د تطبیق سره سمې فعالې شوې، هره کمیټه د هوکړه لیک د تطبیق د دارالانشا د یو تخنیکي همکار لخوا رهبري کیدله. د دې کمیټو نور غړي د حزب اسلامي او د اړونده وزارتونو او دولتي ادارو استازي و. نوموړو کمیټو د کومې لارښوونکې پالیسی او یا داسې پروسیجرونو چې هوکړه پرې شوي وي پرته په کار پیل وکړ چې د هوکړې د پلي کولو په برخه کې یې ګڼ شمیر حقوقي او اجرائیوي پوښتنې رامنځته او د هوکړې په پلي کولو کې د ځنډ او ځنډ لامل شوې.

په لومړیو کې کمیسیون د مهال ویش سره سم منظمې غونډې کولې. د وخت په تیریدو سره به یوازې په غیر منظمه توګه د اړتیا په صورت کې غونډې ترسره کیدې، خو بیا وروسته، کله چې د کمیسیون رئیس د سولې عالي شورا دارالانشا د رئیس په توګه مقرر شو، کمیسیون په بشپړه توګه له منځه ولاړ. د کمیسیون دارالانشا د سولې عالي شورا له دارالانشا سره مدغم شو او د همغږۍ څارنې او د اختلافاتو د حل میکانیزم هم په بشپړه توګه له منځه ولاړ.

## ۵,۲ د هوکړه لیک پلي کیدنه

د سولې د هوکړه لیک په پیل کې د سولې د هوکړه لیک د ګډ کمیسیون تر نظرلاندې په غیرمنظمه توګه پلی کیده خو د شخړې یا د منازعې د بدلون لپاره يې هیڅ ډول پروګرام نه درلود او په جدي توګه د ظرفیت له کمښت سره مخ و. په همدې دلیل د سولې د بهیر د هوکړه لیک تطبیق په افغانستان کې د جګړې پر عمومي وضعیت ډیره لږه اغیزه درلوده.

د حزب اسلامي سره د سولې او پخلاینې بهیر یوازې د دې لپاره پرمخ بیول کیده چې نورو وسله والو مخالفینو ته ثابته کړي چې د افغانستان دولت او نړیوال همکاران يې د افغانستان د جګړې د سوله بيز حل لپاره ژمنتيا لري. دولت غوښتل چې وسله والو مخالفینو ته دا پیغام ورکړي چې څرنګه چې حزب اسلامي له سیاسي بهیر سره یوځای شو، طالبان دې هم د سولې مذاکراتو ته حاضر شي. خو دولت و نه شو کړای چې د دوديزو لارو چارو او عصري کانالونو له لارې د سولې د بهیر د تطبیق په اړه مثبت پیغام خلکو ته ورسوي او څرګنده ده چې د سولې د بهیر د پلی کولو په اړه د عامه پوهاوي او ستراتيژيکو اړیکو نه شتون له امله د دغه پروسې اغیزې هم محدودې پاتې شي.

د سولې د هوکړه لیک د پلي کولو بله ډیره مهمه برخه د زندانیانو خلاصون دی. هغه کسان چې د وسله وال تاوتریخوالي په دوران کې نیول شوي او کوم جنایي جرم ونلري، باید د هوکړه لیک سره سم له زندانه خوشې شي. کله چې د هوکړه لیک پلي کيدل پیل شول، حکومت د حزب اسلامي د زندانیانو پر خلاصون کار پیل کړ. په ۲۰۱۷ کال کې ۲۴۳ تنه او په ۲۰۱۸ کال کې ۲۶۰ تنه زندانیان د هیواد له زندانونو څخه خلاصون وموند. نوموړو زندانیانو ته یوازې یوه جوړه کالي او یوه ډیره کمه سفریه ورکول کیده. دوی سره داسې بله کوم ډول مرسته نه کیدله چې دوی ته بیرته د ملکي ژوند ته د راستنیدو لپاره زمینه برابره کړي.

د حزب اسلامي د جنګیالیو او هغو کسانو لپاره چې بیرته هیواد راستنيږي هیڅ ډول پروګرام شتون نه درلود. دې ته په پام سره چې د دې ډلې ډیری غړو څلویښت کاله په غرونو کې تیر کړي دي، نو عادي او سوله بيز ژوند ته د دوی د راستنولو لپاره جدي ملاتړ ته اړتيا لیدل کیږي. د سولې د هوکړه لیک د تطبیق لپاره د منازعې د تحول یو پراخ او هر اړخيز پروګرام ته اړتيا وه چې باید په دې برخه کې طرح شوي وای.

په عمومي توګه د سولې له بهیر سره داسې يو چلند وشو چې ګواکې یوه عملیاتي پروسه وي نه د منازعې د تحول یوه تخنیکي پروسه. د افغانستان د دولت نړیوالو همکارانو د سولې د بهیر د پلي کولو سره له مرستې ډډه وکړه او هیڅکله يې ځان په دې پروسه کې دخیل نه کړ. برته له اروپایي اتحادیې څخه بل هیڅ کوم تمویل کوونکي د دې بهیر له ملاتړ سره علاقمندي و نه ښودله. سره له دې چې اروپایي اتحادیې د پروګرامونو د پلي کولو لپاره د یوې تطبیق کوونکې مؤسسې له لارې مالي مرستې ځانګړې کړې خو ۱۸ میاشتې وخت يې ونیو چې دا کوچنی او محدود پروګرام پیل شي.

د حزب اسلامي د رهبری کچې مشرانو په لومړیو کې ژمنه کړې وه چې د طالبانو سره به په مختلفو سیمو کې چې د افغان حکومت سره په جګړه کې بوخت دي د سولې د بهیر په برخه کې مثبت نقش ولوبوي. دغه راز د حزب اسلامي د منځنۍ کچې رهبرانو هم ژمنه کړې وه چې د اړیکو او ارتباطي چینلونو له لارې به د طالبانو د متوسطې کچې مشرانو سره د سولې او خبرو اترو زمینه برابره کړي، خو څرنګه چې دغه رهبران هیڅ د سولې په بهیر کې دخیل نه کړل شول، نو د سولې په بهیر کې هم د دوی ممکنه نقش هیڅ په پام کې و نه نیول شو.

د نړیوالو همکارانو د تخنیکي ملاتړ نه شتون او د منازعې د تحول او اړونده تدابیرو لپاره د پروګرامونو نه موجودیت لامل شو چې د سولې هوکړه لیک متوقعه پایلې رامنځته نه کړي. سره له دې چې په بریالیتوب سره د حزب اسلامي د سولې او پخلاینې بهیر پای ته رسول د افغان حکومت له ستراتیژیکو موخو څخه ګڼل کیدل خو په ټولیزه توګه ورته ډیره کمه پاملرنه وشوه.

# ٦. پایله

د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د سولې د هوکړه لیک لاسلیک کیدل د افغانستان د جګړې په تاریخ کې یوه مهمه پیښه ده. د افغانستان د دولت د مذاکراتو د لومړنۍ تجربې په توګه، د سولې فعالین او د شخړو د مدیریت افغاني متخصصین باید دا پروسه د څیړنې او ارزونې لاندې ونیسي او پر پیاوړو او کمزورو ټکو یې باید رڼا واچوي. دغه راز ډیره مهمه ده چې د دې پروسې تجربې او زده کړې یادداشت شي او په ورته پروسو کې ورڅخه په راتلونکې کې ګټه واخیستل شي .

د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې او پخلاینې هوکړه د دواړو خواو له لوري د مشخصو شخصیتونو د صادقانه او له زیاره ډکو هڅو پایله ده. دا هوکړه د دولت نورو وسله والو مخالفینو ته چې د افغان دولت سره په جګړه بوخت دي یو څرګنده پیغام لري چې د افغانستان ولسمشر د نظام له وسله والو مخالفینو سره د سولې او مذاکراتو لپاره جدي اراده لري. د افغانستان سیاسي رهبري هم د ټولو وسله والو مخالفینو څخه غوښتنه کړې ده چې د هیواد د سیاسي بهیر سره په سوله ییزه توګه یوځای شي .

د حزب اسلامي سره سوله په کابل کې په بشپړه توګه د افغانانو په مالکیت او مشرۍ پرمخ ولاړه، په داسې حال کې چې ټول اړوند شریکان او همکاران په یو ډول نه یو ډول پکې دخیل وو. د لازم چمتووالي او ظرفیت نه شتون مګر له ټاکلي وخت څخه ځنډنی کړه او دغه راز د تخنیکي متخصصیونو نه شتون د دې لامل شو چې د سولې هوکړه لیک د سترو ستونزو او کمښتونو سره نهایي شي .

افغان حکومت، د سولې شورا او حزب اسلامي د سولې د هوکړه لیک په تطبیق کې له نږدې سره همکاران وو. سره له دې چې د پروسې د تطبیق په برخه کې ځینې اختلافاتو شتون درلود، خو ښه خبره دا ده چې د دې هوکړه لیک له لاسلیک څخه دوه کاله وروسته هم ټولې ښکیلې خواوې دې هوکړې ته پابند دي. دغه راز د یو منظم او هراړخیز تطبیقي پروګرام د نه شتون له امله، د هوکړه لیک تطبیق د منازعې د تحول د اصولو پر بنسټ حرکت نه دی کړی. د هوکړې تطبیق یوازې په اجرائیوي او عملیاتي کچه مدیریت شوی دی .

د سولې بهیر له ځانګړو توقعاتو سره پیل شوی و: افغان حکومت غوښتل د حزب اسلامي سره سیاسي جوړجاړې ته ورسیږي او له دغه لارې نورو وسله والو ډلو ته څرګنده کړي چې د سولې په بهیر کې جدي دی او غواړي روانه کشاله د سیاسي لارې هواره کړي. حزب اسلامي هم غوښتل په ملي کچه سیاسي پروسې ته ورداخل شي او د خپلو پلویانو غوښتنې ته چې د سولې له بهیر سره یوځای کیدل و مثبت ځواب ووایي، په دې مانا چې د سولې د بهیر په بریالیتوب سره دواړه لوري خپلو موخو ته رسیدلي دي. حزب اسلامي اوسمهال په فعاله توګه د افغانستان په سیاست کې دخیل دی او افغان حکومت د نومووړې ډلې سره د سولې هوکړه د څرګند ثبوت په توګه د سیاسي جوړجاړې لپاره د خپلې ارادې د تمثیل واضح بیلګه ګڼي او وربانديې استدلال کوي. خو باید په یاد ولرو چې نورو ډلو ته قناعت ورکول چې د سولې د خبرو میز ته راشي او دا چې د افغانستان شخړه باید بالاخره له سیاسي او سوله ییزې لارې هواره شي، د عامه پوهاوي هر اړخیزو هڅو او عامه ستراتیژیکو اړیکو ته اړتیا لري، چې اوسمهال دغه ډول کوم پروګرام شتون نلري. په حقیقت کې د حزب اسلامي سره د سولې هوکړې د طالبانو په شمول د نورو وسله والو ډلو پر لیدلوري د پام وړ اغیز نه دی درلودلی (سیګار ۲۰۱۸). نو په لنډه توګه ویلی شو چې دولت او حزب اسلامي د سولې له بهیر څخه خپلې موخې ترلاسه کړي دي خو د هیواد ځینې سیاسي مشران او عام خلک نور پر دې بهیر باور نلري. د خلکو د توقعاتو د مدیریت لپاره باید د عامه پوهاوي او عامه اړیکو اغیزمنې ستراتیژۍ ګانې په پام کې ونیول شي ترڅو د سولې پر بهیرد ټولنې د بیلابیلو اقشارو باور بیرته راجلب شي

## لاسته راغلې تجربې (زده کړې)

- افغان دولت او نړیوالو متحدینو یې په لومړیو کې د جګړې له صحنې څخه د طالبانو پر بشپړې له منځه وړنې تمرکز درلود. د طالبانو د رژیم له سقوط وروسته، د کابل نوې ادارې او متحدینو یې د سیمې پر جیوپولیتکي پیچلتیاو او د طالبانو پر بیا راڅرګندیدو سترګې پټې کړې. په همدې دلیل طالبانو وکړای شو بیاځلې خپلې سرچینې تنظیم او خپل جګړییز فعالیت پیل کړي. له دې تجربې څخه چې کومه زده کړه ترلاسه کولای شو دا ده چې د وسله والو مخالفینو د منځه وړلو لپاره باید د پوځي لارو چارو سره یوځای د نورو پروګرامونو څخه هم کار واخیستل شي ترڅو وسله والو مخالفینو ته د تحول او سیاسي ژوندانه سره د یوځای کیدو زمینه برابره شي.

- د محمد اشرف غني په مشرۍ د ملي یووالي حکومت د هغه ډلې سره د سولې مذاکرات پیل کړل چې د نورو ډلو په پرتله یې چې له دولت سره وسله واله جګړه کوي، د افغان دولت سره د سولې بهیرته لیوالتیا ډیره وه. سره له دې چې طالبان د سولې د وړاندیز اصلي لوری دی، د افغانستان په څیر په یوه پیچلې شخړه کې باید له هر ډول فرصت څخه کار واخیستل شي ترڅو د سیاسي ارادي او نیک نیت پیغام ټولو ډلو ته ورسول شي.

- حکومتونه هغه ادارې دي چې د امنیت او ثبات د ټینګښت دنده په غاړه لري. نو د افغانستان د دولت دنده هم داده چې د وسله والو مخالفینو سره د باور جوړونې په برخه کې ټینګ ګامونه واخلي. څکه په نا انډوله شخړو کې وسله والې ډلې تل هر ګام ته د شک په نظر ګوري، نو د لازمو اقداماتو په ترسره کولو سره کیدای شي د وسله والو ډلو اندیښنې تر یو حده راکمې او یا له منځه ولاړې شي. د یو ستر اقدام په ترسره کولو سره، ولسمشر غني په حزب اسلامي کې د سولې ملاترې غړي وهڅول ترڅو په ښکاره ډول د سولې او پخلاینې لپاره د دغه ډلې ترمنځ د سولې لپاره لابي وکړي او د سولې له هڅو څخه ملاتړ څرګند کړي.

- په شخړه کې ښکیل هیوادونه باید د شخړې د تحول ټولو پړاوونو –د سولې له جوړولو تر سولې د ټینګښت پورې- بشپړ چمتووالی ولری. په دې چمتووالي کې د هغو کسانو د وړتیاو لوړول هم شامل دي چې د شخړې په هر پړاو کې په اغیزمنه توګه دخیل کیږي. د منازعې د تحول او مدیریت بهیرونه ډیری مهال د وړاندوینې وړ نه وي، نو په تیر کې څینې جوړ شوي پلانونه کیدای شي د ګټې اخیستنې وړ ونه اوسي، نو له همدې امله باید تل چمتووالی شتون ولري ترڅو د ناڅاپي وضعیت او غیر متوقع حالاتو سره له مخامخ کیدو مخنیوی وشي.

- د سولې د مذاکراتو له پیل مخکې اړینه ده چې د مذاکراتو د موخو او حدودو په اړه یوې اجماع ته ورسیږو. د مذاکراتي بهیر په هر پړاو کې د اجماع د رامنځته کولو هڅې ډیر وخت نیسي او ستومانه کوونکې کیږي. هرڅومره چې د مذاکراتو بهیر اوږدیږي په هماغه اندازه ورانکاري د بهیر د ګډوډولو لپاره خپلې لاسوهنې زیاتوي.

- د سولې په مذاکراتو کې باید تل داسې دریم اړخ او منځګړی شتون ولري چې د دواړو خواوو د باور وړ وي. دغه دریمګړی (حتمي نه ده چې بهرنی وي، په حقیقت کې ښه به وي که داخلي شخصیت، لکه پخوانی دولتي چارواکی دیني عالم او روحاني رهبر وي). باید د سولې د بهیر په اړه بشپړ مالومات ولري او داسې مهال اقدام وکړي چې مذاکره کوونکي په خپلو بحثونو کې له ودریدلي حالت یا بُنبست سره مخامخ شي.

- د سولې په مذاکراتو کې باید تل داسې دریم اړخ او منځګړی شتون ولري چې د دواړو خواوو د باور وړ وي. دغه دریمګړی (حتمي نه ده چې بهرنی وي، په حقیقت کې ښه به وي که داخلي شخصیت، لکه پخوانی دولتي چارواکی دیني عالم او روحاني رهبر وي). باید د سولې د بهیر په اړه بشپړ مالومات ولري او داسې مهال اقدام وکړي چې مذاکره کوونکي په خپلو بحثونو کې له ودریدلي حالت یا بُنبست سره مخامخ شي.

- سره له دې چې تقریباً د سولې او پخلاینې ټول بهیرونه د سیاسیونو او پوځي قوماناندانو لخوا رهبري کیږي، خو باید هغو تخنیکي اشخاصو ته چې د سولې او پخلاینې په اړه کافي مسلکي پوهه ولري او د شخړې په ځای کې د حقوقي او اداري موضوعاتو په اړه مالومات ولري، هم ونډه ورکړل شي ترڅو د مذاکراتو په بهیر کې ګډون وکړي. مسلکي اشخاص یقیني کوي چې د سولې په هوکړه لیک کې داسې موضوعات په پام کې ونیول شي چې په راتلونکې کې یې په اړه د شخړو له رامنځته کیدو څخه مخنیوی وشي. هغه اشخاص چې د شخړې د تحول او د مذاکراتو د بهیر په اړه مالومات لري، کولای شي د هوکړه لیک په مشخصو برخو لکه د تضمین کوونکو، څارونکو بنسټونو او د اختلافاتو د حل د میکانیزمونو په برخه کې مثبت رول ولوبوي.

- سره له دې چې افغان حکومت، د سولې عالي شورا او حزب اسلامي په بریالیتوب سره د سولې هوکړه لیک لاسلیک کړ، خو نړیوالې شمیرې ښیي چې د سولې ۵۰٪ هوکړه لیکونه د لاسلیک وروسته له ماتې سره مخامخ کیږي (پاریس ۲۰۰۴). د سولې د بهیر لپاره باید د هوکړه لیک ترڅنګ تل عملي تطبیقي پروګرام شتون ولري ترڅو یې د پلې کیدنې بریالیتوب تضمین کړي.

- د سولې د بهیر په ټولو پړاوونو کې د عامه پوهاوي او ستراتیژیکو اړیکو د پروګرامونو پلي کول د سولې د بهیر په اړه د خلکو د باور او ملاتړ د راجلبولو، د توقعاتو د مدیریت او د سولې له هوکړه لیک څخه متوقعه پایلو د خبراوي لپاره ډیر اړین دي. د عامه پوهاوي او ستراتیژیکو اړیکو پروګرامونه د سولې په بهیر کې مرکزي رول لري. د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ څومره چې لازمه وه دغه برخې شتون نه درلود.

# مأخذونه او سرچينې

**Bird, Tim and Alex, Marshall** (2011). *Afghanistan-How the West Lost Its Way*. Cornwall, TJ International Ltd.

**Clinton, Hillary Rodham** (2014). *Hard Choices*. London, Simon & Schuster UK Ltd.

**Coll, Steve** (2004). *Ghost Wars: The Secret History of the CIA, Afghanistan, and Bin Laden, from the Soviet Invasion to September 10, 2001*. London, Penguin Books.

**Coll, Steve** (2018). *Directorate S. The C.I.A. and America's Secret Wars in Afghanistan and Pakistan*. New York, Penguin.

**Derksen, Deedee** (2018). *Hezb-e-Islami, Peace and Integration into the Afghan Security Forces*. Washington, United States Institute of Peace.

**Giustozzi, Antonio and Ibrahimi, Niamatullah** (2010). *Thirty Years of Conflict: Drivers of Anti-Government Mobilisation in Afghanistan*. Kabul, Afghanistan Research and Evaluation Unit.

**Johnson, Casey Garret** (2018). *The Political Deal With Hizb-e Islami. What It Means for Talks with the Taliban and Peace in Afghanistan*. Washington, United States Institute of Peace.

**Kabul International Conference on Afghanistan** (2010). Kabul Conference Communiqué. Available at: www.unodc.org/documents/afghanistan/Kabul_Conference/FINAL_Kabul_Conference_Communique.pdf

**Karzai, Hamid** (2009), H.E. President Hamid Karzai's Inaugural Speech. Available at: www.journalofdemocracy.org/articles-files/gratis/Documents-Karzai-Speech-16-1.pdf

**Paris, Roland** (2004). *At War's End: Building Peace After Civil Conflict*. Cambridge University Press.

**Permanent Mission of the Islamic Republic of Afghanistan to the United Nations New York** (2010). The Resolution Adopted at the Conclusion of the National Consultative Peace Jirga. Available at: http://afghanistan-un.org/2010/06/the-resolution-adopted-at-the-conclusion-of-the-national-consultative-peace-jirga/

**Rashid, Ahmed** (2010). Taliban. *The Power of Militant Islam in Afghanistan*. New York, I. B. Tauris & Co Ltd.

**Shinn, James and Dobbins, James** (2011). *Afghan Peace Talks A Premier.* RAND Corporation. Available at: www.rand.org/content/dam/rand/pubs/monographs/2011/RAND_MG1131.pdf

**SIGAR** (2018). 40th Quarterly Report to the United States Congress. Available at: www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-07-30qr.pdf

**UN Security Council** (2012). Letter dated 31 December 2012 from the Chair of the Security Council Committee established pursuant to resolution 1988 (2011) addressed to the President of the Security Council. Analytical Support and Sanctions Monitoring Team. New York: UN Security Council. Available at: www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7b65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7d/s_2012_971.

## ضمیمه I: هغوی سره چې مرکې شوي[2]

| اسم | وظیفه | اداره مربوطه | تاريخ مصاحبه |
|---|---|---|---|
| مولوي عطاالرحمن سليم | د سولې عالي شورا مرستيال او د افغان دولت له لوري د مذاکراتي تيم مشر | د سولې عالي شورا | ۲۸ جولای ۲۰۱۸ |
| عتيق الله صافی | د حزب اسلامي افغانستان د مذاکراتي تيم غړی | حزب اسلامی | ۲۱ جولای ۲۰۱۸ |
| فرهادالله فرهاد | د سولې عالي شورا د درالانشا مرستيال | د سولې عالي شورا دارالانشا | ۳۰ جولای ۲۰۱۸ |
| فرانز مايکل ميليين | د اروپايي اتحاديې سفير | اروپايي اتحاديه | ۸آگست ۲۰۱۸ د بريښنالیک له لارې |
| غيرت بهير | د حزب اسلامي د مذاکراتي تيم غړی | حزب اسلامی | ۱۵ آگست ۲۰۱۸ |
| گريم سميت | لويديځوال ډيپلومات | ناڅرگند | ۷ نومبر ۲۰۱۷، د بريښنالیک له لارې |
| حبيبه سرابي | د سولې عالي شورا مرستيال او د مذاکراتي تيم غړې | شورای عالی صلح | ۲۲ جون، ۲۰۱۸ |
| حسينه صافی | د افغان ښځو شبکې مشره او د سولې عالي شورا غړې | د افغان ښځو شبکه | ۱۲ سپتمبر ۲۰۱۸ |
| لوسی پريکنس | د سياسي چارو مسؤله | يوناما | ۳۰اکتوبر ۲۱۰۸ |
| محمد ايوب رفيقي | د سولې عالي شورا د دارالانشا رئيس او د مذاکراتي تيم غړی | د سولې عالي شورا دارالانشا | ۵ آگست ۲۰۱۸ |
| محمد اکرم خپلواک | د حزب اسلامي سره د هوکړه ليک د تطبيق کميسيون مشر او په سياسي چارو کې د ولسمشر ځانگړی استازی | د سولې عالي شورا دارالانشا | ۱۲ سپتمبر ۲۰۱۸ |
| محمد کريم امين | د مذاکراتي تيم مشر | حزب اسلامی | ۲۹ جولای ۲۰۱۸ |
| قاضي عبدالحکيم حکيم | د حزب اسلامي مرستيال | حزب اسلامی | ۲۸ جولای ۲۰۱۸ |
| شاه محمود مياخيل | د افغانستان د ځانگړې مشر | د متحده آيالاتو د سولې انستيتوت | ۲۳اکتوبر ۲۰۱۸ |
| وحيدالله سباوون | د حزب متحد اسلامي مشر او د قومونو او قبائلو په چارو کې د ولسمشر سلاکار(د حزب اسلامي پخواني د مشرتابه غړی) | حزب متحد اسلامی | ۲۲ جولای ۲۰۱۸ |
| ولي احمدزی | سياسي سلاکار | اروپايي اتحاديه | ۲۳ جولای ۲۰۱۸ |
| وژمه فروغ | د ښځو د حقونو فعاله (مدني ټولنه) | مدني ټولنه | ٦ آگست ۲۰۱۸ د بريښنالیک له لارې |

[2] د سولې د بهیر په جریان کې د مرکه کیدونکي شخص دنده او موقف

## ضمیمه II: د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې د هوکړه لیک بشپړ متن

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد الله رب العالمین والصلاه و السلام علی سید الانبیاء و المرسلین محمد و علی آله واصحابه اجمعین

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت او د حزب اسلامی افغانستان

تر منځ د سولې عالي شورى په مديريت او وساطت هوکړه لیک

د ۱۳۹۵ کال د میزان ۱ مه نیټه۱۳۹۵

**مقدمه**

له دې امله چې د جګړې ژر پای ته رسېدا، د دايمني سولي استقرار، او په هېواد کي د امنیت او عدالت تأمين د ټول ملت اساسي غوښتني دي او همدا د سرلوړي، آزاد، مستقل او مترقى افغانستان د بقاء او ارتقاء ضمانت کوي، نو د دې هېواد د هر وګړي او د هېواد په قضاياوو کي د ټولو مطرح ډلو او ټولنو مسئولیت دئ چې یو بل ته لاس ورکړي او د دغو سپېڅلو اهدافو د تحقق لپاره په ګډه کار وکړي.

د ملک اوسني حالت ته په کتلو دا ایجابوی چې د تحمیل شوې جګړې، نا امني، بی ثباتي او بی عدالتیو عوامل له منځه یوړل شی، له هر هغه څه سره په ګډه مقابله وشی چې د افغانانو ملی وحدت، استقلال، ملی حاکمیت، ځمکنی بشپړتیا او امنیت ګواښی، نظام د ولس په خدمت کی او د دوی له حمایت برخمن وی، د هیواد اساسی قانون او ټول اسلامی او ملی ارزښتونه د ټولو سیاسی او اجتماعی ګوندونو او بنسټونو له لوري محترم وګڼل شی.

دغو اهدافو ته په پام سره د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت او حزب اسلامی افغانستان پر دغو موادو توافق ته رسېدلي:

### اساسي اصول :لومړی فصل

*لومړی ماده:*

دواړه لوري پر الله تعالی کلك ایمان او د اسلام پر مقدس دین بشپړ باور سره؛ ځان مکلف ګڼي چې د دغه دین د لوړو اصولو بشپړ او له قید او شرط پرته متابعت به خپل نصب العین بولي.

*دویمه ماده:*

دواړه لوري معتقد دي چې دیني اصول او لارښووني به د ټولو قوانینو او دولتي اجراءاتو اصلي بنسټ وي؛ همغسي چې د هېواد د اساسي قانون دوهمه او دریېمه ماده حکم کوي چې «د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت دین د اسلام سپېڅلی دین دی» او «په افغانستان کي هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د احکامو او معتقداتو خلاف وي».

*درېیمه ماده:*

دواړه لوري په دې باور دي چې د افغانستان ټول وګړي د قانون په وړاندي حقوق او مسئولیتونه لري، قانون به د هېواد د هر ښځینه او نارینه وګړي د حقونو او امتیازاتو ضامن وي، یو موټی واحد افغانستان د دې خاورې ټولو قومونو او غیور ولس سره تعلق لری او ملي حاکمیت د ولس مسلم حق دئ چې په مستقیمه توګه او یا د خپلو منتخبو استازو له لاري به ئې عملي کوي.

*څلورمه ماده:*

په داسې حال کې چې د ملي حاکمیت تحکیم او د هېواد د لوړو ملي منافعو تأمین د دواړو لوریو ګډ هدف دئ، او دواړه په دې باور دي چې افغانان کولی شي د دغه وحدت او همغږي له لارې له جګړې راولاړ شوی بحران کابو کړي او له ګواښونو سره مقابله وکړي، خو د بهرنیو نظامي ځواکونو د وتلو په اړه دواړه لوري ځانګړي لید لوري لري، په داسې حال کی چې دواړه لوري په دې توافقلیک کې خپلو کړو ژمنو او مندرجو اصولو ته بشپړ التزام لري؛ حزب اسلامي له هېواده د ځواکونو د وتلو لپاره د معقول مهالوېش غوښتونکی دئ.

## دوهم فصل د دواړو لوریو ژمني

### *لومړی برخه: د افغانستان اسلامي جمهوریت ژمني*:

*پنځمه ماده:*

د افغانستان اسلامي جمهوریت ژمنه کوي چې د دغه توافقلیك له لاسلیک سره سم به د ملګرو ملتونو د امنیت له شورى او له ټولو اړوندو هېوادونو او نهادونو رسماً غوښتنه کوي چې د جګړې د دائمي پای ته رسېدو او تل پاته سولې او امنیت د تأمین لپاره پر حزب اسلامي افغانستان، د هغه پر مشر او غړو ټول لګېدلي بندیزونه او تحریمونه ډېر ژر پای ته ورسي، همداراز د افغانستان دولت مکلف دئ چې په دې اړه له ټولو امکاناتو په استفادې سره هځه وکړي چې د حزب اسلامي د مشر او غړو په خلاف هر ډول تعزیرات له منځه ولاړ شي.

*شپږمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت به د توافقلیك له لاسلیک سره سم رسماً اعلان کوي چې د حزب اسلامي محترم مشر او نور لوړ پوړي غړي کولی شي د هېواد په هر ګوټ کی چې وغواړي د هیواد د قوانینو مطابق په آزادانه ډول واوسېږي او دولت مکلف دئ د دې مأمول د تحقق لپاره لازم او مساعد شرائط برابر کړي.

*اوومه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ژمنه کوي چی رسماً اعلان کړي؛ په ټولو سیاسي او اجتماعي برخو کی د حزب اسلامي د فعالیت حق له اساسي قانون سره سم؛ په رسمیت پیژني او د تحقق لپاره به ئې هراړخیزه مرسته وکړي، حزب اسلامي افغانستان کولی شي د ولسمشری، پارلماني، ولایتي، ولسوالیو او ښاروالیو په انتخاباتو کي برخه واخلي او نوماندان وړاندي کړي.

*اتمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ژمن دئ چې د هېواد له سیاسي، مدني او دولتي بنسټونو سره په مشوره د انتخاباتو د بهیر د لازیاتې اصلاح لپاره شرائط برابر کړي او په دې اړه مشخصې طرحی وړاندي کړي.

دغه راز دولت ژمن دئ چې د انتخاباتي نظام د اصلاح په بهیر کی د حزب اسلامي افغانستان د حضور لپاره لازم شرائط برابر کړي. دولت له ټولو اړوند ادارو سره په مشوره د انتخاباتي نظام تعدیل د متناسب ګوندي سیستم پر بنسټ ولاړ انتخاباتي نظام ته ژمن دئ، همدا راز دولت متعهد دئ چی د انتخاباتو په بهیر او اړوندو جوړښتونو کی، د قانون مطابق او په حکومت کی د نورو سیاسي ډلو په څېر د حزب اسلامی افغانستان فعال حضور لپاره شرائط برابر کړي. د دې مادې تفصیل او د تحقق څرنګوالی مشترك اجرائي کمیسیون او په پای کي د دولت او حزب اسلامی د مشرانو ګډې غونډې او توافق ته محول کېږي.

*نهمه ماده:*

د افغانستان جهادي مشر محترم گلبدین حکمتیار ته به په هېواد کې د صلحې د تأمین او د افغانستان د آزادۍ په لار کې د ده د هڅو د قدروني په موخه د افغان ولسمشر د ځانگړي فرمان له مخې ځانگړي اعزاز او درناوی کېږي. د دې مأمول اړوند پروټوکول څرنگوالی به د حزب اسلامي له پلاوي سره په مشوره د صلحې د عالي شورى له لوري مشخص او د جمهوري ریاست مقام ته وړاندي کېږي.

*لسمه ماده:*

د حزب اسلامي مشر کولی شي د استوگني لپاره دوه یا دري مناسب ځایونه په افغانستان کي غوره کړي، د استوگنځي برابرولو، د شرائطو او ضروري امنيتي تدابيرو نیولو او اړوند چارو معقول لگښت به ئې د دولت په غاړه وي. د لازمو تدابیرو د جزئیاتو څرنگوالی به د هغه گډ اجرائي کمیسیون له لوري مشخص کېږي چي د دې موافقتلیك د تطبیق لپاره جوړېږي.

*یوولسمه ماده:*

د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت د دغه توافقليك په مطابقت کي ددی توافقليک له اعلان سره سم د حزب اسلامي د مشر او غړو د ټولو مخکنیو سیاسي او نظامي فعالیتونو په ارتباط د دوی قضایي مصونیت تضمینوي.

دغه راز د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت ژمن دی، چې د حزب اسلامي هغه زندانیان او اسیران چې د سیاسي او نظامي فعالیتونو له کبله زنداني شوي او پر هغوی د چا له لوري حق العبدي دعوه نه ده شوې د هغه نوملړ له مخې چې په اجراییوي کمیسیون کي پرې توافق شوی، د هغه عدلي کمیسیون له لارې چي په دې موخه جوړیږي او د حزب اسلامي استازي به یې هم غړي وي، په لنډ وخت کې (چي تر دوو میاشتو ډېر نه وي) آزاد کړي.

حزب اسلامي افغانستان ژمنه کوي چي خوشي شوي غړي به ئې د دولت خلاف جگړي ډگر ته نه درومي او له هيڅ وسله والي غيرقانوني او ترهگرې ډلې سره به نه یوځای کېږي.

د دې بهیر د نظارت او څارني اړوند هر اختلاف به په نیک نیتی سره گډ اجرائي کمیسیون ته محول کېږي.

*دولسمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت او حکومت مشرتابه ژمنه کوي چي د هېواد د مهمو دولتي سیاستونو د تنظیم او تعمیل اړوند مشورو او تصمیم نیوني په بهیر کي د حزب اسلامي د مشر تابه حضور او ونډه تأمین کړي. د دې چاري څرنگوالی به د گډ اجرائي کمیسیون له لوري تبیین او تعیین کېږي.

*دیارلسمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ځان موظف بولي چي په دولتي بنسټونو کي د حزب اسلامي حضور او مشارکت ته له قانون سره سم شرائط برابر کړي. د دې مأمول لپاره مناسب او د منلو وړ کړچار به د گډ اجرائي کمیسیون له لوري مشخص کېږي، او د وروستی پرېکړي لپاره به د دولت او حزب اسلامي افغانستان د مشرانو گډې غونډي ته محول کېږي.

*څوارلسمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ژمنه کوي د حزب اسلامي افغانستان هغه غړي او قومندانان چي وړتیا ولري او خدمت ته لېوال وی په امنيتي ځواکونو کي جذب کړي.

همداراز دولت ژمن دئ چي په ټولنې کې د دوی د قانوني، عزتمن، خوندي او تلنې (دايمي) ادغام لپاره لازم شرائط برابر کړي. د دې مادې د پلې کېدو څرنګوالی به د ګډ اجرائي کميسيون له لوري تنظيم کيږي.

*پنځلسمه ماده:*

د حزب اسلامي افغانستان د هغو مأمورينو او افسرانو د انفصال دوره به له قانون سره سم د خدمت په دوره کې محسوب کېږي چي په دولتي اداراتو کې ئې خدمت کړی او تر دې وړاندې له خدمت نه منفصل شوي او خپل قانوني او يا اثباتيه اسناد وړاندې کولی شي. د دوی مجدد جذب، ترفيع يا تقاعد به له قانوني شرائطو سره سم ترسره کېږي.

*شپاړسمه ماده:*

د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت ژمنه کوي چي د نصرت مينې پنډغالي په ګډون په ايران او پاکستان کې د مېشتو افغان مهاجرينو د ستونزو اوارولو او په خپله خوښه او عزتمنه توګه هېواد ته د دوی د ستنېدو او په کابل او نورو ولاياتو کې د دوی د باثباته او دوامداره استوګنې لپاره پراخ اقدامات وکړي؛ او د زمکي په شمول د ضروري امکاناتو برابرولو مسئوليت په غاړه واخلي.

په دې اړه دولت ژمن دئ چي د لومړي ګام په توګه به د (۲۰۰۰۰) شل زره مهاجرو کورنيو د عملي او په خپله خوښه د راستنېدو لپاره د نړۍ والي ټولنې په مرسته لازم شرائط برابروي. همدا راز دولت به د حزب اسلامي د شهداوو او معلولينو له کورنيو سره د نورو شهيدانو او معلولينو په څېر د مرستې لپاره لازم اقدامات کوي. د دې مادې د تعميل څرنګوالی به د ګډ اجرائي کميسيون له لوري تثبيت او تنظيم کېږي.

*اوولسمه ماده:*

هېواد ته د حزب اسلامي د هغو غړو او منسوبينو چي په بهر کې مېشت دي بېرته ستنېدا به د دې موافقتليك له شرائطو او غوښتنو سره سم ترسره کېږي.

## ***دوهمه برخه: د حزب اسلامي افغانستان ژمني:***

*اتلسمه ماده:*

د سولې عالي شورا او د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت له لوري د دغه هوکړه ليك له رسمي اعلان وروسته به حزب اسلامي افغانستان رسماً اعلان کوي چي د هېواد لوړو ګټو، د جګړې دائمي پای ته رسېدو، او تل پاته سولې او امنيت د تأمين په موخه به حزب اسلامي د مهم سياسي ګوند په توګه فعاليت کوي، د هېواد اساسي قانون به مني، تلپاته اوربند به رعايت کوي، هر ډول نظامي تحرکات او فعاليتونه به متوقف کوي او د اجرايی کميسيون د پلان او مهالوېش سره سم او د هغه معلوماتو پر بنسټ چی د دی سند د لاسليک نه وروسته د حزب اسلامی لخوا وړاندې کيږي خپل نظامی تشکيلات منحلوی.

همداراز حزب اسلامي به د دې توافقليک له لاسليك سره سم هغه زندانيان او اسراء ژر تر ژره خوشي کوي او دولت ته به ئې تسليموي چي د حزب په اسارت کي دي. د افغانستان اسلامی جمهوريت دولت ژمن دی چی د حزب اسلامی د غړو د امنيت لپاره لازم تدابير ونيسي.

*نولسمه ماده:*

حزب اسلامي افغانستان ژمن دئ چي د دې توافقليک له لاسليك وروسته اعلان کړي چي هيڅ ډول اړيکي به د ترهګرو ډلو او غير قانونی وسله والو سازمانونو سره نه ساتي او ملاتړ او حمايت به يې نه کوي.

*شلمه ماده:*

حزب اسلامي افغانستان ځان متعهد بولي چي د يوه سياسي حزب په توګه؛ له خپل ولس د دفاع او په ټول هېواد کي د تلپاته امنيت د تأمين لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت سره همکاري وکړي او د يوه رسمي ګوند په توګه خپل دفاتر په مرکز او ولاياتو کي فعال کړي.

*يوويشتمه ماده:*

حزب اسلامي افغانستان کاملاً چمتو دئ چي خپلو ديني او تاريخي مسئوليتونو ته په پام سره د دائمي سولي او امنيت د تأمين په اړه هڅه وکړي او په دې لار کي د سولي عالي شورى د هڅو ملاتړ وکړي.

## درېيم فصل متفرقه

*دوويشتمه ماده:*

دغه موافقتليك د يوه معتبر رسمي سند په توګه؛ د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت او د حزب اسلامي افغانستان تر منځ او د سولي د عالي شورى په وساطت او مديريت؛ د لاسليك له نېټي وروسته معتبر او د اجراء وړ دئ. هر تغيير چي له لاسليك وروسته د يوه لوري لخوا غوښتل کېږي بايد په ليکلي بڼه وي او د دواړو لوريو له توافق وروسته به په سند کي شامليږى.

*دريويشتمه ماده:*

د دې معاهدې د نظارت او پلي کېدو لپاره؛ دواړه لوري د يوه داسي ګډ اجرائي کميسيون پر جوړولو توافق کوي چي د دواړو لوريو له باصلاحيته استازو جوړېږي، دا کميسيون به د سولي له عالي شورى سره په همغږي عمل کوي.

*څلرويشتمه ماده:*

د توافقليک په اړه د هر ډول ممکن اختلاف رامنځته کېدو په صورت کي به دواړه لوري د دوستانه مشورو او مذاکراتو له لاري، په نېك نيتى سره او په هغه ګډ کميسيون کي د حل و فصل لاري لټوي چي غړي به ئې د دواړو لوريو لخوا ټاکل کېږي.

*پنځه ويشتمه ماده:*

دا توافقليك په ۳ فصلونو او ۲۵ مادو کي تنظيم شوى چي په د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر پر لسمه، د ۱۳۹۵ هجري لمريز کال د ميزان پر لومړى نېټه د دواړو لوريو لخوا لاسليك شو

## والله ولی التوفيق لاسليک کوونکي

د سولې عالي شورا د پالوي مشر، مولوی عطاءالرحمان سليم

د حزب اسلامي د پلاوي مشر ، مهندس محمد امين کريم

د افغانستان داسلامي جهوي دولت استازى ، محمد حنيف اتمر

د سولې عالي شورا رئيس، پيرسيد احمد ګيلانی

د افغانستان د سلامي جمهوري دولت جمهور رئيس، محمد اشرف غني

د حزب اسلامي افغانستان امير، انجينر ګلبدين حکمتيار